پښتو

# لنډ نصاب

د نوي مسلمان لپاره
د ټولګي تعليمي نصاب

Osoul Center

# لنډ نصاب

د نوي مسلمان لپاره د ټولګي تعليمي نصاب

Osoul Center
www.osoulcenter.com

**ح جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، 1445هـ**

أصول ، مركز
الوجيز: تعليم صفي للمسلم الجديد باللغة البشتو. / مركز أصول -
ط1. .- الرياض ، 1445هـ
126 ص ؛ ..سم

**رقم الإيداع: 1445/19267**
**ردمك: 978-603-8438-10-7**

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیلیزه

الحمد لله الذي هدانا للإسلام، ودلّنا إلى سبل السلام، وبعث فينا خير الأنام، صلى الله عليه وسلم تسليمًا كثيرًا. أما بعد: موږ خوښ یو چې تاسو ته دا کورس وړاندې کوو چې ریښتینی دین (د اسلام دین) معرفي کوي او د هغه علمي او عملي اړتیاوې بیانوي، د دې لپاره چې ستا د دین په پېژندلو کې ستا لپاره چابې او د اسلام د احکامو په پلي کولو کې درسره مرسته کوونکی شي.

دا کورس تاسو ته دا شیان وړاندې کوي:

**۱- د اسلام د دین او لویو اړینو موضوعاتو په اړه یې لنډ وضاحت.**

**۲- قرآن کریم ته یوه عمومي کتنه، او د قرانکریم د ځینو لنډو سورتونو د معناګانو تفسیر.**

**۳- د فرضي عبادتونو د احکامو لنډ تشریح.**

**۴- په اسلام کې د معاملاتو، رواجونو او اخلاقو په اړه د مهمو احکامو لنډ توضیح.**

د دې درسي فصلونه د تعلیمي پلان له مخې ویشل شوي چې د هر فصل درسونه شپږو ورځو باندې ویشل شوي، د هر درس موده ټاکل شوې ده. دا مضمون په یوه تعلیمي بڼه هم جوړه شوې ده چې یو شمیر فعالیتونه او تمرینونه پکې شامل دي، کوم چې د نوي مسلمان سره د معلوماتو د یادولو او په هغې باندې پوهېدلو کې مرسته کوي، سربېره پر دې د هر درسي فصل په پای کې د ارزونې پوښتنې دي ترڅو زده کوونکي وکولی شي د هغه د پوهې کچه و ارزوي. په دې مضمون کې یو شمیر بڼې شاملې دي چې هدف یې د نوي مسلمان د تعلیمي پروسې په ښه کولو او د کورس په پوهیدو کې مرسته کول دي، چې هغه په لاندې ډول دي:

دا رنګ د دې معلوماتو اهمیت ته اشاره کوي، او د لوست په پای کې د اړونده پوښتنې احتمال ته اشاره کوي.

دا یادښت په متن کې د یوې کلمې تعریف او توضیح ته اشاره کوي.

**بحث وکړه**

دا پراګراف د ښوونکي او زده کونکي تر منځ د بحث موضوع ته اشاره کوي، چې موخه یې د زده کونکي د فکر او استدلال ملکې ته وده ورکول دي.

**اضافي لوستل**

د درس په ورته موضوع کې د بډایه کولو مواد، د اوسول مرکز لخوا تولید شوي.

**تمرین**

یو داسې عملي کړو وړو ته شامل دی چې په فکر کولو یا د یوې مسلې راوبستلو او یا په یادولو باندې ولاړ وي.

**نو په دې په زړه پورې تعلیمي سفر کې تاسو ته ښه راغلاست وایو..**

# تعلیمي پلان

| ناسته | پراگرافونه | وخت |
|---|---|---|
| | **لومړی ورځ** | |
| لومړی ناسته | پیلیزې:<br>۱. پېژندنه او خبرتیاوې<br>۲. وجودي پوښتنې: (مونږ څوک یو؟ مونږ چیرته ځو؟)<br>۳. د هدایت نعمت | ۱۰ دقیقې |
| | اسلام:<br>۱. اسلام څه شی دی؟<br>۲. زه ولې مسلمان شم؟<br>۳. د اسلام نړیوالتوب<br>۴. اسلام هغه ګناهونه ختموي چې مخکې شوي دي<br>۵. اسلام وروستی دین دی<br>۶. د محمد صلی الله علیه وسلم پیغمبري<br>۷. په اسلام کې د غوروالي معیار<br>۸. د دین زده کړه<br>۹. د اسلام رکنونه | ۳۰ دقیقې |
| | زه څنګه مسلمان شم؟:<br>۱. دوه ګواهیانې (شهادتونه)<br>۲. د دواړو ګواهیانو [شهادتینو ] معنا.<br>۳. د ګواهیانو لوازمات | ۲۰ دقیقې |
| | **دمه** | |
| دویمه ناسته | اودس څنګه وکړم؟ (عملي) | ۲۰ دقیقې |
| | لمونځ څنګه وکړم؟ (عملي) | ۲۰ دقیقې |
| | سورت الفاتحه یاد کړه او په معنی یې پوه کړه | ۲۰ دقیقې |

د لومړۍ ورځې یادداښت

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
|---|---|---|
| | **دويمه ورځ** | |
| لومړی ناسته | ايمان څه شی دی؟<br>د ايمان رکنونه (ستنې):<br>١. په الله تعالى ايمان لرل.<br>٢. په ملاېکو ايمان لرل.<br>٣. (د الله تعالى له طرفه) په رالېږل شويو کتابونو ايمان لرل.<br>٤. په پېغمبرانو ايمان لرل.<br>٥. د اخرت په ورځ باندې ايمان لرل.<br>٦. په تقدير باندې ايمان لرل.<br><br>د ايمان مېوې (فايدې) | ٢٠<br>دقيقې |
| | قرآن کريم:<br>١. قرآن کريم څه شی دی؟<br>٢. قرآن کريم د روح او عقل غذا ده.<br>٣. قرآن کريم د ژوند تګلاره ده.<br>٤. په قرآن کريم کې د پېغمبرانو کيسې. | ٢٠<br>دقيقې |
| | د اخلاص سورت يادول او د هغه په معناګانو ځان پوهول | ٢٠<br>دقيقې |
| | **دمه** | |
| دويمه ناسته | بنده ګي:<br>١. د بنده ګۍ معنا.<br>٢. د بنده ګۍ د قبلېدو شرطونه.<br>٣. د بنده ګۍ ډولونه. | ١٥<br>دقيقې |
| | پاکي<br>د پاکۍ ډولونه:<br>١. حسي پاکي: اصل په شيانو کې پاکي ده، ناپاک شيان، د ناپاکۍ لېرې کول، د حاجت رفع کول.<br>٢. معنوي پاکي: د بې اودسۍ لرې کول، د بې اودسۍ لرې کولو لپاره استعمالېدونکي اوبه. | ٤٥<br>دقيقې |

**د دويمې ورځې يادښت**

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
|---|---|---|
| **درېمه ورځ** | | |
| لومړۍ غونډه | اودس څرنګه وکړم؟ (نظري)<br>١. د اوداسه معنا.<br>٢. اودس څرنګه وکړو؟<br>٣. د اودس ماتوونکي شیان.<br>٤. د اودس واجبوونکي شیان.<br>٥. په جورابو باندې مسحه کول. | ٤٠ دقیقې |
| | د سورة الفلق یادول او د هغه په معنا ځان پوهول | ٢٠ دقیقې |
| **دمه** | | |
| دوېمه غونډه | څرنګه غسل وکړم؟<br>١. د غسل معنا.<br>٢. څرنګه غسل وکړو؟<br>٣. غسل کله واجبېږي؟<br>٤. هغه څه چې جنب ته یې کول حرام دي.<br>٥. تیمم. | ٢٠ دقیقې |
| | حیض او نفاس:<br>١. د زنانه ښځه د وتونکي وینې ډولونه.<br>٢. دحیض او نفاس احکام. | ٢٠ دقیقې |
| | د سورة الناس یادول او د هغه په معنا باندې ځان پوهول | ٢٠ دقیقې |

**د درېمې ورځې یاداښت**

| ناسته | پراگرافونه | وخت |
|---|---|---|
| | **ځلورمه ورځ** | |
| لومړۍ ناسته | د سورة الكافرون یادول او د هغه په معنا ځان پوهول | ۲۰ دقیقې |
| | څرنګه لمونځ وکړم؟ (نظري):<br>۱. لمونځ څه شی دی؟<br>۲. مونږ ولې لمونځ کوو؟<br>۳. د لمانځه مرتبه.<br>٤. د لمانځه شرطونه.<br>٥. پنځه لمونځونه.<br>٦. څرنګه لمونځ وکړو؟ | ٤٠ دقیقې |
| | **دمه** | |
| دویمه ناسته | لمونځ:<br>۱. د لمانځه د کیفیت پوره والی.<br>۲. د جمعې لمونځ. | ٦٠ دقیقې |

د ځلورمې ورځې یاداښت

| ناسته | پراګرافونه | وخت |
|---|---|---|
| | **پنځمه ورځ** | |
| لومړۍ ناسته | د الکوثر سورت یادول او د هغه په معنا ځان پوهول | ۲۰ دقیقې |
| | زکات:<br>۱. زکات څه شی دی؟<br>۲. مونږ ولې زکات ورکوو؟<br>۳. څرنګه زکات ورکړو؟ | ۲۰ دقیقې |
| | روژه:<br>۱. روژه څه شی دی؟<br>۲. ولې روژه نیسو؟<br>۳. د روژې ماتوونکې.<br>۴. هغه څوک چې د هغوی لپاره په رمضان کې بوژه کېدل روا دي. | ۲۰ دقیقې |
| | حج:<br>۱. حج څه شی دی؟<br>۲. مونږ ولې حج کوو؟<br>۳. حج په چا فرض دی؟ | ۱۰ دقیقې |
| | **دمه** | |
| دویمه ناسته | د العصر سورت یادول او د هغه په معنا ځان پوهول | ۲۰ دقیقې |
| | جامې (کالي):<br>۱. اصل په جامو کې.<br>۲. حرامې جامې. | ۳۰ دقیقې |
| | خوراک او څښاک:<br>۱. اصل په خوراک او څښاک کې.<br>۲. حرام خوراک او څښاک.<br>۳. د شرعي حلالې (ذبحې) شرطونه کوم دي؟<br>۴. په رستورانتونو او دوکانونو کې د حلالولو حکمونه. | ۳۰ دقیقې |

د پنځمې ورځې یادابنت

........................................................................
........................................................................
........................................................................
........................................................................
........................................................................
........................................................................
........................................................................

<table>
<tr><th>ناسته</th><th>پراګرافونه</th><th>وخت</th></tr>
<tr><td colspan="3">شپږمه ورځ</td></tr>
<tr><td rowspan="2">لومړی ناسته</td><td>مالي راکړې ورکړې:<br>١. مالي راکړې ورکړې څه دي؟<br>٢. اصل په مالي راکړو ورکړو کې.<br>٣. حرامې مالي راکړې ورکړې.</td><td>٣٠<br>دقیقې</td></tr>
<tr><td>اخلاق:<br>١. اخلاق په اسلام کې.<br>٢. د ښایسته اخلاقو فضیلت.<br>٣. په اسلام کې د اخلاقو ډگرونه.</td><td>٣٠<br>دقیقې</td></tr>
<tr><td colspan="3">دمه</td></tr>
<tr><td rowspan="2">دویمه ناسته</td><td>د یادوو شویو سورتونو تکرار.</td><td>٣٠<br>دقیقې</td></tr>
<tr><td>د اوداسه او د لمانځه د طریقو تکرار.</td><td>٣٠<br>دقیقې</td></tr>
</table>

د شپږمې ورځې یادداښت

# د نصاب موضوګاني



لومړی فصل

## د اسلام دين


١ اسلام او ستري پوښتنې ١٦

٢ اسلام څه شی دی؟ ٢٠

٣ زه څنګه مسلمان شم؟ ٢٨

٤ ايمان ٣٢




دويم فصل

## قرآن کريم


١ قرآن کريم وپېژنه ٤٠

٢ د لنډو سورتونو تفسير ٤٦



دریم فصل

# عبادتونه

١ بنده ګي ٥٦
٢ پاکوالی ٦٠
٣ اودس ٦٤
٤ غسل ٧٠
٥ ځینې هغه حکمونه دي چې مسلماني ښځې لپاره ځانګړي دي ٧٤
٦ لمونځ ٧٨
٧ زکات ٨٦
٨ روژه ٩٠
٩ حج ٩٤



څلورم فصل

# اسلامي حکمونه

١ جامې (کالي) ١٠٢
٢ خوراک او څښاک ١٠٦
٣ مالي راکړې ورکړې ١١٠
٤ اخلاق (ښایسته خویونه) ١١٤



لومړی فصل

# د اسلام دین







# لومړی لوست

١ الإسلام والأسئلة الكبرى

٢ ما الإسلام؟

٣ كيف أسلم؟

٤ الإيمان







# لومړی لوست

# اسلام او سترې پوښتنې

## پيليزه

**انسانانو ته د انسان له وجود سره تړلې پوښتنې رامنځ ته کېږي، نو د خپلې موضوع په حقيقت، د هغه د راتگ سرچينه، د هغې د علت او د پای په اړه پوښتنې کوي. او اسلام دغو پوښتنو ته د قناعت وړ ځوابونه ورکړي دي:**

## لومړی پوښتنه:

### مونږ څوک يو؟

اسلام انسان داسې تعريفوي چې دا د الله تعالی له ډېرو مخلوقاتو څخه دی، الله تعالی هغه ته پر ډېرو مخلوقاتو فضيلت ورکړی، او دې ته يې د خپل ژوند په اوږدو کې د هغه د مطلوب کارونو د ترسره کولو لپاره ډېر مخلوق يې ورته ظباندې په وچه او سمندر کې سواره کړي دي، او مونږ دوی په خپل مخلوق کې په ډېرو زياتو باندې غوره کړي دي، په غوره کولو ډېرو سره) (اسراء: ۷۰).

او الله تعالی په انسان کې يوشان والی ايښودلی دی له:

- ملايکو سره د هغوی په پاکوالي او بنده گی کې
- شيطانانو سره د هغوی په انکار او نافرمانی کې.
- او حيواناتو سره د خپلو هيلو او شهوتونو په پوره کولو کې.

> ملايکې: د الله تعالی د مخلوق
> څخه يو مخلوق دی، الله تعالی
> د رڼا څخه پيداکړي، پالل شوي،
> تابع کړی شوي، عزتمند بنده گان
> دي، د الله تعالی نافرماني نه کوي
> او څه امر چې ورته وکړی شي کوي
> يې، د هغوی شمير باندې له الله
> تعالی پرته بل هېڅوک نه پوهيږي

او په هغه کې د خير او شر دواړو لپاره چمتوالی ايښودلی، او هغه څه يې ورته ورکړي چې د خير او شر ترمنځ پرې توپير کولی شي؛ لکه فطرت او عقل

او هغه يې ازاد، خود مختاره گرځولی، او د خپل واک او کړنو باره کې به ترې پوښتنه کېدلی شي.

## دویمه پوښتنه

### مونږ ولې او د کوم ځای څخه راغلي یو؟

اسلام دا بیانوي چې د انسان شروع د پیداښت د ختې څخه شوې، الله تعالی ادم -علیه السلام- د ختې نه پیدا کړی دی، او هغه د ټول بشریت پلار دی، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ﴾ (او بېشکه مونږ انسان د ختې د خلاصې (بېلابېلو ځایونو څخه راټولې شوې) څخه پیدا کړی دی) (المؤمنون: ۱۲) او د دې انسان د پیداښت مقصد د الله تعالی بنده ګي ده، په داسې حال کې چې الله تعالی د دوی د پیداښت څخه بې نیازه دی، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ (او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي) (الذاریات: ۵۶).

آدم

الله تعالی مونږ ته په قرآن کې د هغه د پیداښت کېسه بیان کړې او دا چې ځنګه شیطان ورسره دښمني پیل کړه، د سورت البقرې د آیتونو (۳۰-۳۹) تفسیر وګورئ.

## بحث وکړه

**د اسلام له داخلېدو مخکې او وروسته د خپل وجود د مفهوم په اړه خپل نظر پرتله کړئ:**

........................................................................................................

........................................................................................................

........................................................................................................

## درېمه پوښتنه

### مونږ چېرته ځو؟

قرآنکریم فرمايي چې هر انسان به په دې دنیا کې مړ کیږي او د هغه په مرګ سره د کار کولو پړاو پای ته رسیږي، او د حساب او بدلې ورکولو مرحله پیل کیږي، الله تعالی فرمايلي دي: (بېشکه ته هم مړ کېدونکی یې او بېشکه دوی (هم) مړه کېدونکي دي - بیا بېشکه تاسو به د قیامت په ورځ د خپل رب په وړاندې یو تر بله جګړه کوئ) (الزمر: ۳۰-۳۱) نو کله چې انسان مړ شي داسې مرحلې ته انتقالیږي چې د هغه څخه پکې د هغه د دین په اړه پوښتنه کېدلی شي، او د هغه په کړنو به ورته بدلې ورکولی شي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۖ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدْخِلَ ٱلْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلْغُرُورِ﴾ (هر ساه لرونکی د مرګ (خوند) څکونکی دی او یقینا همدا خبره ده چې تاسو ته به د قیامت په ورځ ستاسو ثوابونه پوره (پوره) در کړی شي، نو څوک چې له اور (د جهنم) نه لرې کړی شو او جنت ته داخل کړی شو، نو یقینا هغه کامیاب شو او دنیایي ژوند یواځې د غولېدلو سامان دی) (آل عمران: ۱۸۵). کله چې د قیامت ورځ راشي نو الله تعالی به مړي له قبرونو څخه د قضاوت او ثواب لپاره راپاڅوي، نو مومنانو ته به باغونه او کافرانو ته به د جهنم اور په بدل کې ورکړل شي، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ ٱلْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ فَرِيقٌ فِى ٱلْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِى ٱلسَّعِيرِ﴾ همداسې مونږ تا ته (دا) عربي قرآن وحي کړو د دې لپاره چې ته ام القری (مکه) وویروې او هغه څوک چې د دې ګېر چاپېره دي او ته دوی د جمع کېدلو له ورځې نه ووېروې چې هېڅ شک په کې نشته، یوه ډله به په جنت کې وي او بله ډله به په دوزخ کې وي) (الشوری: ۷).



## د هدايت لورينه (نعمت):

د هدايت لورينه (نعمت): څوک چې د خپل پيداينښت په حکمت پوه شي، او د هغه انجام چې خلک يې د قيامت په ورځ انتظار کوي، نو په دې به يې پوخ يقين پيداشي چې تر ټولو لوی نعمت چې الله تعالی يې خپلو بندګانو ته ورکوي، د حق دين او د نيکو اعمالو ته د لارښوونې نعمت دی. له همدې امله الله تعالی خپلو بندګانو ته په لمانځه کې امر کړی چې له هغه څخه مستقيمې لارې ته د لارښوونې غوښتنه وکړي کومه چې د اسلام دين دی چې د الله تعالی رضا ته رسېدونکی ده.

### بحث وکړه

**د ځمکې جوړول يو له هغو پړاونو څخه دی چې انسان يې په خپل ژوند کې ترسره کوي، او د دې لوی کار د سرته رسولو لپاره الله پاک خپل طبيعت دې ته چمتو کړی ترڅو دا رول ترسره کړي ... دا بيان کړه چې انسان څرنګه کولی شي چې پرته له نورو مخلوقاتو دا ځمکه اباده کړي؟**

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

**له مرګ څخه وروسته د مخلوق د برخليک د معلومولو ځينې عملي اغيزې ذکر کړئ؟**

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

## د ارزونې پوښتنې

١ اسلام څرنګه انسان په ټولو مخلوقاتو باندې غوره کړی؟

..................................................................................

..................................................................................

٢ د انسان د پیداښت هدف څه دی؟

..................................................................................

..................................................................................

٣ د پیداښت د پیل کیسه قرآن کریم ولې په تفصیل سره بیان کړې؟

..................................................................................

..................................................................................

٤ کله چې انسان مړ شي نو داسې یوې مرحلې ته انتقال شي چې د هغه نه پکې د هغه د دین په اړه پوښتنه کېږي، او د هغه په عملونو بدلې ورکول کېږي.

- سم
- ناسم

د انسان د پیدایښت هدف د ځمکې آبادول او برابرول دي ترڅو پکې ژوند وکړي.

- سم
- ناسم

٥ وروسته له دې چې تا د انسان د پیداښت په هکله اسلامي مفهوم ولوست:

دا بیان کړه چې تاسو په کومه اندازه احساس کوئ چې هغه ستاسو د طبیعت او داخلي احساساتو سره موافق دی.

..................................................................................

..................................................................................

..................................................................................

..................................................................................

..................................................................................



## دویم لوست

# اسلام څه شی دی؟

### سريزه

اسلام: هغه دين دی چې الله جل جلاله په دې سره محمد - صلی الله عليه وسلم - رالېږلی دی، او دا د هغه څه غزول دي چې پخواني پيغمبرانو راوړي وو. د هغه اساس پر دې دی چې د عبادت مستحق معبود يو دی هيڅ شريک نه لري، او هغه الله جل جلاله دی، د هغه په پاچاهۍ کې د هغه لپاره هيڅ کوم مرستندوی نشته، او د هغه د بنده ګانو ترمنځ يې څوک واسطه هم نشته. خو زه ولې بايد اسلام قبول کړم؟ او آيا دا دين د ټولو خلکو لپاره دی او که يوازې د عربو لپاره خاص دی؟ او پيغمبر يې څوک دی؟ او آيا بل پيغمبر شته چې د دې نه به ورسته راشي؟

### زه ولې مسلمان شم؟

کيدای شي ځينې خلک پوښتنه وکړي: زه ولې بايد مسلمان شم؟

جواب يې دا دی چې: زه بايد د ځينو سببونو له وجې مسلمان شم چې له هغې څخه ځينې يې دا دي:

لومړی: د اسلام دين هغه دين دی چې الله تعالی د خپلو بنده ګانو لپاره غوره کړی، او د دې نه پرته بل هيڅ دين هم د چا څخه نه قبلېږي، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾ (او څوک چې له اسلام نه پرته (بل) دين ولټوي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانيانو څخه دی) (آل عمران: ٨٥). دويم: اسلام د ټولو پيغمبرانو دين دی، او په ټولو پيغمبرانو په ايمان لرلو باندې امر کوي، او د دوی ترمنځ هيڅ توپير نه کوي. الله تعالی فرمايلي: تاسو ووايئ: مونږ په الله تعالی ايمان راوړی دی او په هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي، او په هغه څه چې ابراهيم او اسماعيل او اسحاق او يعقوب او د هغوی اولادې ته نازل کړی شوي دي، (او

مونږ ایمان راوړی دی) په هغه څه چې موسی او عیسی ته ورکړی شوي دي، او په هغه څه چې د خپل رب له جانبه (نورو) پیغمبرانو ته ورکړی شوي دي، مونږ په دوی کې د هیڅ یو په مینځ کې فرق نه کوو، او مونږ خاص د هغه الله تعالی حکم منونکي یو. (البقره: ۱۳۶). او د پیغمبرانو ترمنځ اختلاف په هغو قوانینو کې دی چې د بنده ګانو په کارونو پورې اړه لري، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ (مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرره کړې ده) (المائدة: ۴۸). یعني: الله تعالی د هر یو امت لپاره یو دستور مقرر کړی چې هغه ته خپلې فیصلې کوي، او یوه لاره ده چې په هغې سره الله تعالی ته ځان نږدې کوي، نو د هر دین والا لپاره خاص حکمونه او خاص دستورونه دي چې د هغوی سره مناسب دي، لیکن د عقیدې له وجې، د ټولو پیغمبرانو عقیده یوه ده. بیا الله تعالی د خپلو پیغمبرانو او رسولانو وروستنی پیغمبر راولیږه نو په هغه سره یې د پیغمبرانو لړۍ ختمه کړه، او د هغه په قانون سره یې اسماني قانونونه ختم کړل، نو د اسلام نه پرته بل هیڅ دین هم د چا څخه نه قبلوي. دریم: په اسلام کې ننوتل په دنیا کې د نیکبختۍ او په اخرت کې د خلاصون لار ده، نو په آخرت کې به هیڅ څوک نه خلاصیږي چې د محمد صلی الله علیه وسلم دعوت ورته رسیدلی وي مګر چې په هغه یې ایمان راوړی وي او د هغه تابعداري یې کړې وي، الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ۝٨٥﴾ (او څوک چې له اسلام نه غیر (بل) دین ولټوي، نو هیڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانیانو څخه دی). (آل عمران: ۸۵). او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « په هغه ذات مې قسم دی چې د محمد روح د هغه په لاس کې دی، زما د دعوت په اړه د دې امت یهودي او یا نصراني وانه وري، او بیا مړ شي، او زما په رسالت ایمان رانه وړي نو دا کس به د دوزخ له خښتنانو څخه وي». (مسلم روایت کړی ۱۵۳). څلورم: بېشکه اسلام زما لویو پوښتنو ته زړه بنوونکي ځوابونه ورکوي: زه ولې دنیا ته راغلی یم؟ د کوم ځای څخه راغلی یم؟ او له مرګ څخه وروسته به چیرته ځم؟

پنځم: اسلام داسې یو دین دی چې فطرت سره برابر دی، د لوی ارزښت په پیل سره چې هغه د الله تعالی توحید دی، او په هغو ادابو ختمیدونکی دی چې نیکو برابرو اخلاقو ته بنوونه کوي.

## بحث وکړه



اسلام څرنګه د ټولو پیغمبرانو دین کېدلی شي؟

.................................................................................................................

.................................................................................................................

.................................................................................................................

.................................................................................................................

.................................................................................................................

.................................................................................................................

## د اسلام له ځانګړتیاوو څخه:

اسلام د نورو دینونو څخه په څېنو ځانګړتیاوو سره ځانګړی دی، او د هغه سترې ځانګړتیاوې دا دي:

## ۱ اسلام نړیوال دین دی

د اسلام دین یوازې په عربو پورې خاص نه دی، بلکې دا هغه دین دی چې الله تعالی د ټولو انسانانو لپاره غوره کړی، او له دې وجې نه الله تعالی خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم ته وېلي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ﴾ (او مونږ ته نه یې لېږلی مګر د عالمونو لپاره رحمت) ( أنبیاء: ۱۰۷). نو بېشکه الله تعالی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ټولو خلکو لپاره عام رحمت ګرځولی، دوی ته د ایمان لار ورښایي، او خپل شریعت یې په خلکو باندې د رحمت له کبله د ټولو شریعتونو څخه پراخه ګرځولی.

**فایده**



**اسلام د خلکو عادتونو او رواجونو ته درناوی کوي او هغوی په دې نه مجبوروي چې خپل رواجونه دې بدل کړي مګر هغه څیز چې د اسلام د شعایرو او ښوونو مخالف وي.**

## ۲ اسلام مخکنې ګناهونه بخښي

کله چې یو انسان په رېښتنې توګه اسلام ومني، نو بېشکه الله تعالی د پراخه مهربانۍ او رحمت څښتن دی نو هغه ته ټول مخکنې ګناهونه بخښي، او دا د اسلام د ښېګڼو څخه دي. الله تعالی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ویلي: ﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ﴾ (ته هغو کسانو ته ووایه چې کفر یې کړی دی، که چېرې دوی منع شي، (نو) دوی ته به د هغو (ګناهونو) بخښنه وشي چې مخکې شوي دي). (الأنفال: ۳۸ ). او یو سړی راغی غوښتل یې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته مسلمان شي خو لېکن دا شرط یې کېښوده چې دې ته د ده مخکنې ګناهونه وبخښل شي، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم زیری ورکړ او ورته یې وویل: «ایا ته نه پوهېږې چې اسلام مخکنې تیر شوي ګناهونه له منځه وړي؟» مسلم روایت کړی (۱۲۱).

## ۳ اسلام وروستی دین دی

الله تعالی اسلام د پخوانيو آسماني قوانينو د سلسلې څخه ګرځولی، او د قیامت د قايمېدو پورې يې د ټولو مخلوقاتو لپاره د دين په توګه غوره کړی، نو د ځمکې په سر د اسلام نه پرته بل حق دين نشته، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ﴾ (او څوك چې له اسلام نه پرته (بل) دين ولټوي، نو هېڅكله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانيانو څخه دی) (آل عمران: ۸۵).

### بحث وکړه

**تاسو هغو کسانو ته څرنګه ځواب ورکوئ چې ادعا کوي چې اسلام د عربو لپاره ځانګړی دين دی؟**

## د اسلام پیغمبر څوک دی؟

مسلمان دا عقیده لري چې بېشکه محمد - صلی الله علیه وسلم - د ټولو پیغمبرانو وروستی دی کوم چې الله تعالی ټولو خلکو ته رالېږلی و، چې هغوی یوائې د الله بنده ګی ته راوبلي، او دا چې د هغه نه وروسته بل پیغمبر نشته، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴾ (محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هیچا پلار ندی او لیکن د الله رسول دی او د نبیانو (د لړی) ختموونکی دی او الله په هر شي ښه عالم دی) (الاحزاب: ۴۰).

## د دین زده کړه:

- په مسلمان باندې واجب دي چې د خپل دین هغه اساسي څیزونه زده کړي کومو ته چې اړتیا لري، تر څو د خپل رب بنده ګي په پوهې سره وکړي.
- پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - دین باندې د ځان پوهولو په اړه ترغیب ورکړی، نو فرمايلي دي: "الله تعالی چې چا ته د خیر اراده وکړي نو په دین کې پوهه ورنصیب کوي" امام بخاري روایت کړی (۷۱).
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې د شرعي علم زده کړه جنت ته د ننوتلو لار ده، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي: "څوک چې په داسې لاره روان شو چې علم یې پکې لټاوه، الله تعالی به ورته د دې په وجه جنت ته لاره اسانه کړي". امام مسلم روایت کړی (۲٦۹۹).

اضافي لوستل

د دې لپاره چې د محمد - صلی الله علیه وسلم - د ژوند په اړه ښه پوه شي د محمد رسول الله په نوم کتاب ولوله، کوم چې په (أصول بعدة لغات عالمية) اصول په نړیوالو ژبو ستهور کې موندلی شي.

د کتاب راښکته کولو (ډاونلوډولو) لپاره بارکوډ سکین کړئ



ډېر داسې کتابونه شته چې له هغو څخه مسلمان د خپل رب د عبادت لپاره د خپل دین احکام زده کولای شي، او د دې غوره کتابونو د لاسته راوړنې لپاره باید له متخصصینو لارښوونه وغوښتل شي.

## په اسلام کې د غوروالي معيار:

الله تعالی د خپلو بندګانو تر منځ د غوروالي لپاره د ايمان او تقوا معيار ټاکلی دی، نو د مسلمانانو تر منځ توپير د دوی د ايمان په پياوړتيا کې دی، نه د دوی په شکل، نه د دوی په نسب، نه د دوی په رنګ او نه د پيسو پر اساس، الله تعالی فرمايلي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ﴾ (اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي ياستی، او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولې ياستی، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنی، بېشکه د الله تعالی په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله تعالی ښه پوه، ښه خبردار دی) (الحجرات: ١٣). او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "اې خلکو! بېشکه ستاسو رب يو دی، او پلار مو يو دی، خبردار! عرب په عجم او عجم په عرب باندې، سور په تور او تور په سور باندې غوره والی نه لري مګر په پرهېزګاری سره". بيهقي په شعب الايمان کې روايت کړی (۴۷۷۴).

## د اسلام رکنونه:

**د اسلام دين په پنځه رکنونو ولاړ دی:**






۱ وروسته د دې نه چې تا دا ويډيو کلېپ وکتلو (د مسلمان نوی ژوند Muslim's new life ) د هغه څيز په اړه کې خبرې وکړه چې تا په اسلام باندې نور هم مضبوطوي:

د ويډيو کلېپ لېدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

۲ د دين هغه اساسات کوم دي چې يو مسلمان يې بايد زده کړي تر څو د الله تعالی بنده ګي په هغه شکل وکړي کوم چې هغه ورته امر کړی؟

٣

د اسلام دین دې لارښوونو ته شامل دی:

- أ) اخلاقي.
- ب) علمي.
- ج) عملي.
- د) ټول سم دي.

د اسلام د رکنونو شمېر:

- أ) ٦
- ب) ٥
- ج) ۴
- د) ٣

٤

وروسته له دې نه چې الله تعالی بنده ته په اسلام کې د داخلیدو توفیق ورکړ، نو په هغه باندې لازم دی چې د دین هغه اساسات زده کړي د کومو په وجه چې وکولی شي د الله تعالی بنده ګي وکړي..

- سم
- ناسم



## دریم لوست

# زه څنګه مسلمان شم؟

**سرېزه**

**د نوي مسلمان لپاره تر ټولو په زړه پوري شېبې چې هغه يې نشي هېرولی، د دوو شهادتونو په ویلو سره په اسلام کې د داخلېدو شېبه ده، په دې اعلان سره هغه د ټولو نه مخکې د خپل ځان لپاره دا اعلانوي چې سبا ته به هغه بل حوک وي، او هغه له دې شیبو وروسته د حق د پېژندنې او په هغه د مضبوطېدو په لور لومړي ګامونه پورته کړل. او په دې درس کې مونږ د شهادتېنو (د وو ګواهیانو) په معنا او د هغو په اړتیاوو ځانونه پوهه وو.**

## دوه ګواهیانې:

الله تعالی په اسلام کې د ننوتلو لپاره کلید (چابی) د دوو ګواهیانو ویل ټاکلی دی، او هغه دا دي: أشهد أن لّا إله إلا الله. وأشهد أن محمدًا رسول الله. پدې معنا چې زه ګواهي ورکوم چې د الله پرته بل معبود نشته. او ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی.

## د دوو ګواهیانو څه معنا ده؟

**لومړی: د لا إله إلا الله د ګواهۍ ورکولو معنا**

**د (أشهد ألا إله إلا الله) معنا:** يعني زه پوخ یقین لرم چې داسې بل څوک معبود نشته چې د بنده ګۍ لایق وي مګر یوازې الله تعالی دی.

**او په دې ګواهۍ کې دوه شیان شامل دي**

**لومړی**
**د الله تعالی پرته له بل چا نه د خدایتوب نفي کول**

**دویم**
**الله تعالی لره د خدایتوب ثابتول**

د اسلام د دین اصل چې د ټولو پېغمبرانو دین دی: یوازې د الله تعالی عبادت، او له هغه پرته په هر هغه شي کفر کول دي چې عبادت یې کېږي. الله تعالی فرمایلي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ﴾ (او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مگر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ). (الأنبياء: ۲۵).

په هیڅ صورت کې روا نه دی چې د الله جل جلاله پرته د بل چا پر خدایتوب ایمان ولرئ، او په هر ډول عبادت باندې له الله تعالی پرته بل چا ته نږدې کېدل روا نه دي.

### دویم: د محمد رسول الله د ګواهۍ ورکولو معنا

د (أشهد أن محمدًا رسول الله) معنا دا ده: یعنې زه پوخ یقین او عقیده لرم چې بېشکه محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پېغمبر دی، او هغه د ټولو پېغمبرانو وروستی پېغمبر دی، نو د هغه نه وروسته بل پېغمبر نشته، او بېشکه د هغه پېغمبري د ټولو خلکو لپاره ده، الله پاک فرمایلي دي: ﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا﴾ برکتونو والا دی هغه ذات چې نازل کړی یې دی فرقان - فرق کوونکی په مابین د حق او باطل کې - پخپل بنده باندې د دې لپاره چې د عالمونو (انسانانو او پیریانو) لپاره وېره ورکوونکی شي. (الفرقان: ۱).

**تمرین**

وروسته لدې نه چې ته د (محمد رسول الله) په نامه کتاب ته راوګرځېدلې، د محمد صلی الله علیه وسلم په اړه راتلونکې پېژندګلوي معلومات ولیکه:

د کتاب د بارولو (ډاونلوډ کولو) لپاره بارکوډ سکن کړه



نوم یې:

نسب یې:

پیدایښت یې:

روزنه یې:

پېغمبري یې:

هجرت یې:

وفات یې:

## د دوو گواهیانو اړتیاوې:

یوازې د دوو شهادتونو تلفظ کافي نه دی، بلکې د هغو په مانا پوهېدل او په هغه څه عمل کول چې د دې دواړو د وجې نه لازمېږي. د (له الله پرته بل معبود نشته) د گواهۍ نه په هغه څه باندې کفر کول لازمیږي چې له الله تعالی پرته یې بنده گي کېږي، او یوازې په الله تعالی باندې ایمان لرل او یوازې هغه د عبادت وړ گڼل، او د هغه په بنده گۍ کې اخلاص کول دي. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا﴾ (نو چا چې له طاغوت (شیطان، بت) نه انکار وکړ او په الله یې ایمان راوړ، نو یقینا ده ډېره مضبوطه کړۍ ټېنگه ونیوله، چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته) (البقرة: ۲۵۶). د (محمد د پېغمبرۍ) د گواهۍ په وجه په انسان دا لازمېږي چې: د هغه تصدیق وکړي په هغه څه کې چې هغه پرې خبر ورکوي، او د هغه تابعداري وکړي په هغه څه کې چې هغه پرې امر کوي او یا ترې منع کوي، او د الله تعالی بنده گي به نه کېږي مگر په هغې طریقې چې هغه راوړې وي.

**بحث وکړه**

**ولې په (لا إله إلا الله) گواهۍ ورکول د نورو معبودانو چې عبادت یې کېږي کفر کول لازمېږي؟**

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

له خپلو ملگرو سره د هغو دلایلو شمیره شریک کړه چې ولې ځینې خلک د ډول ډول خدایانو اختراع کولو ته لیواله دي او خلک د دوی عبادت ته رابلي..



د هغو عقلي دلیلونو څخه چې د الله تعالی پېغمبر؛ ابراهیم علیه السلام پرې خپل قوم ته دلیل وړاندې کړ کله چې یې ترې پوښتنې کولې: (ایا تاسې د هغه څه بنده گي کوئ چې تاسو یې (پخپله) تراشئ) (الصافات: ۹۵)

# د ارزوني پوښتني

١ کله چې ته پوه شوې چې الله تعالی د دې کاېناتو معبود دی نو ښېشکه دا په اسلام کې د ننوتلو لپاره کافي دی:

- ◯ سم
- ◯ ناسم

د محمد رسول الله د پېغمبرۍ په ګواهۍ کې دا کافي ده چې هغه ومنم او تابعداري یې ونه کړم:

- ◯ سم
- ◯ ناسم

٢ وروسته د دې نه چې تا دغه ویډیو کلېپ ولېدلو (محمد څوک دی؟ Who? is Muhammad ) د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لويۍ په اړخونو خبرې وکړه، او هغه لارې چارې وڅېړه چې د اسلام د ښمنان یې د هغه د سپېڅلي انځور د خرابولو لپاره کاروي.

امسح الباركود لمشاهدة المقطع

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

٣ د دې پاڼې «Jesus in Quran - jesusandquran.com» په کتلو سره، د محمد صلی الله علیه وسلم له عیسی علیه السلام سره د تړاو په اړه خبرې وکړه.

د ویب سایټ د لېدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................



## خلورم لوست

# ایمان

### سریزه

کله چې یو مسلمان د قرآن کریم تلاوت کوي یا لمونځ کوي یا د الله تعالی نوره بنده ګي کوي، نو د آرام او ډاډ احساس کوي، دا احساس ځینې خلک د زړه سکون او نیکبختۍ ډېرو لوړو مرتبو ته رسوي کوم چې د ایمان د هغو اثارو څخه دي چې انسان دې ته اړ باسي چې یو مسلمان خپله ټوله زنده ګي د الله تعالی لپاره وګرځوي داسې چې د هغه اوامر پکې په مینه او محبت سره سر ته رسوي، او د هغه له نواهیو څخه په مطلقې تابعدارۍ سره ځان ساتي. او په دې لوست کې به مونږ د ایمان د مفهوم، رکنونو او ګټو په اړه ځان پوه کړو.

## ایمان څه شی دی؟

ایمان: په زړه او ژبه باندې هغه څه ربښتیا ګڼل چې د الله تعالی له طرفه راغلي، او په مینه، امید، او وېرې سره هغه ته زړه ته تسلیمول، او په دې طریقې سره په اندامونو عمل کول دي، الله تعالی فرمایلي: (اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو پر الله ایمان راوړئ او د هغه پر رسول او پر هغه کتاب چې هغه په خپل رسول باندې نازل کړی دی او پر هغو کتابونو چې له دې نه یې مخکې نازل کړي دي، او څوک چې کفر وکړي په الله او د هغه په ملاېکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو او د اخرت په ورځ، نو یقیناً هغه ګمراه شو په ډېرې لرې ګمراهۍ سره). (النساء: ۱۳٦).

### بحث وکړه

د امید او وېرې ترمنځ څه فرق دی؟

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

## د ایمان ستني (رکنونه):

**ایمان په شپږو ستنو ولاړ دی، او هغه دا دي:**

١ په الله تعالی ایمان لرل: نو مسلمان په الله تعالی او د هغه په نومونو او صفتونو باندې ایمان لري، او په دې خبره چې بېشکه هغه د دې سترو کاېناتو پالونکی دی، او هغه یوازې د دې کاېناتو پیداکوونکی دی، مالک د ټولو هغو شیانو دی چې په دې کې دي، او د هغوی د چارو سمبالوونکی دی، خپلو بنده ګانو ته روزي ورکوونکی دی، او په دې خبره ایمان او یقین لري چې له هغه پرته داسې بل خدای نشته چې د بنده ګۍ حقدار وي، او یقینا هغه د کمال په صفتونو ستایل شوی.

٢ په ملایکو ایمان لرل: نو مسلمان د عزتمندو ملایکو په شتون ایمان لري، او یقینا الله تعالی هغوی پیداکړي دي، او هغوی د الله تعالی بنده ګي کوي، څه امر چې ورته کوي په هغه کې یې نافرماني نه کوي، او د هغوی په هغو صفتونو او دندو ایمان لري کومې چې په قرآن او حدیث کې راغلي.

د کتاب او سنت نه مراد: قرآن کریم او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیثونه دي، چې دا دواړه په اسلام کې د قانون جوړونې دوه اصلي سرچینې ګڼل کېږي.

### الله تعالی سره شرک کول:

د الله تعالی نه پرته په بل چا کې د خدایتوب عقیده لرل، او یا بل چا ته د بنده ګۍ په څه شي باندې ځان نېږدې کول، او دا ډېره لویه ګناه ده، او غټه سرغړونه ده، چې الله تعالی یې نه بخښي، لکه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا﴾(بېشکه الله تعالی نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوک) شریک کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې یې وغواړي او څوک چې له الله سره شریک ونیسي، نو یقینًا هغه ډېره لویه ګناه راجوړه کړله) (النساء: ۴۸).

٣ په رالېږل شویو کتابونو ایمان لرل: نو مسلمان په دې ایمان لري چې بېشکه الله تعالی د خپل طرفه خپلو بنده ګانو ته په خپلو پیغمبرانو کتابونه را نازل کړي، هغه یې د خلکو د لارښوونې او هغوی ته د خپل دین د طریقو د ښودلو لپاره را نازل کړي، او د هغو کتابونو څخه دا داي چې الله تعالی په موسی بن عمران علیه السلام باندې تورات را نازل کړي، او زبور یې په داود علیه السلام، او انجیل یې په عیسی ابن مریم علیهما السلام، او قرآن کریم یې په محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړی، او بېشکه قرآن کریم د ټولو وروستنی او د ټولو محافظ دی.

٤ په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ایمان لرل: نو مسلمان په دې باندې ایمان لري چې بېشکه الله تعالی ټولو قومونو ته خپل پیغمبران لېږلي، او هغوی یې په معجزاتو باندې مضبوط کړي کومې چې د دوی په رېښتینولی دلالت کوي، د دې لپاره چې مسلمانانو ته زیري ورکړي، او کافران وویروي، او خپل قوم ته د دین طریقې وربنایي، او چا ته چې لېږل شوی باید تابعداري یې وکړي، او محمد صلی الله علیه وسلم د هغوی اخرنی او وروستنی پیغمبر دی.

٥ د اخرت په ورځ ایمان لرل: نو مسلمان د قیامت په ورځې ایمان لري، او په دې چې بېشکه الله تعالی به په دغه ورځ مړي د خپلو قبرونو څخه راوباسي، او د هغوی په کړنو به ورسره حساب کتاب کوي، او په هغې به ورته بدلې ورکوي، نو ځینې د دوی نه به جنت ته ننوځي، او ځینې د دوی به جهنم ته ننوځي.

٦ په تقدیر باندې ایمان لرل: نو مسلمان په ټولو هغو څه ایمان لري چې په دې دنیا کې کېږي که خیر وي او که شر دا ټول د الله تعالی په تقدیر باندې دي، او په دې ټولو الله تعالی پوهېږي، او په لوح محفوظ کې یې لیکلي، او په دې دنیا کې هغه څه کېږي چې الله تعالی یې غواړي.

اللوح المحفوظ: دا هغه کتاب دی چې الله تعالی پکې ټول هغه څه لیکلي کوم چې د قیامت د ورځې پورې د بنده ګانو لپاره مقرر شوي.

تقدير: دا په ازل کې د الله تعالی له طرفه د شیزونو اندازه کول دي، او د هغه پوهه په دې چې دا به په معلومو وختونو کې، په ځانګړي کیفیت واقع کېږي.

## د ایمان ګټې (ثمرې):

**د ایمان ډېرې ګټې دي، له هغو څخه:**

- د نفس ډاډ: ایمان د مومن روح ته ډاډ ورکوي، له الله او د هغه له تقدیر څخه راضي وي، او له الله تعالی پرته بل له هېچا څخه نه وېرېږي.
- د الله تعالی پېژندنه: نو مومن خپل رب پېژني داسې پېژندنه چې د هغه تعلق د خپل رب سره زیاتوي، نو د هغه نومونه، صفتونه او کړنې پېژني.
- الله تعالی لوی ګڼل: نو مومن چې کله خپل رب وپېژني د هغه لویي او عزت پکې نور هم زیاتېږي، او هومره یې مینه او امید زیاتېږي، او په هماغه اندازه له هغه څخه یې وېره هم زیاتېږي.
- په بنده ګانو باندې د الله تعالی د مهربانۍ احساس کول: بېشکه الله تعالی هغوی ته پېغمبران رالېږلي او هغوی ته یې کتابونه رالېږلي، د دې لپاره چې خلک د حق دین لوري ته هدایت شي.
- د ملایکو سره مینه کول: ځکه چې هغوی د الله تعالی بنده ګې او تابعداري کوي.
- د پېغمبرانو سره مینه کول: بېشکه الله تعالی هغوی د دې لپاره غوره کړي چې خلکو ته د هغه پېغام ورسوي.
- په بنده ګۍ کې زیار ویستل: نو هر څومره چې ایمان قوي کېږي هغومره د انسان بنده ګي زیاتېږي.
- ښاپسته ژوند: نو مومن په هغه څه راضي وي چې الله تعالی هغه ته مقرر کړی وی، او په دې هم پوهېږي کله چې دنیا کې هغه ته کوم مصیبتونه رسېږي د هغه لپاره د درجو لوړوالی دي، او د دې د ګناهونو رژوونکي دي، لکه څرنګه چې دا د هغو نعمتونو امید لري کوم چې الله تعالی په اخرت کې مومنانو لره تیارې کړي.
- په دنیا باندې نه دوکه کېدل: ځکه چې دنیوي ژوند موقت دی، او دا د اخرت د تل پاتې ژوند لپاره لاره ده.
- د دروغو او خرافاتو معلومول: ځکه چې ایمان ډېرې دغه خرافات رابښکاره کوي او باطلوي یې.
- جنت ته ننوتل: نو هغه د تل پاتې نعمتونو کور دی کوم چې هېڅکله نه ختمېږي، او بېشکه الله -تعالی- دغه د خپلو مومنانو بنده ګانو لپاره ځانګړی کړی دی.

### زما یادابنت

د ایمان ځیني ګټې چې په اسلام کې له داخلیدو وروسته مو احساس کړي دي ولیکئ:

١ په رسولانو د ايمان راوړلو معنا دا ده چې ته يوازې د محمد - صلى الله عليه وسلم- په رسالت ايمان ولرې:

سم ناسم

٢ د دې ويډيو كليپ (Who is Allah?) (الله څوک دی؟) له ليدو وروسته د خالق د عظمت په اړه خبرې وکړئ..

د ويډيو كليپ لېدلو لپاره باركوډ سكن كړه

٣ دا ويډيو كليپ وګورئ (The Six fundamentals of faith) (د عقيدې شپږ اساسات) او هغه اغيزې ليست کړئ چې تاسو يې د ايمان له شپږو رکنونو څخه په هر يو کې د خپل ايمان څخه ترلاسه کوئ.

د ويډيو كليپ لېدلو لپاره باركوډ سكن كړه

# شخصي ارزونه

| م | تعلیمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزورې | ښه | عالي |
| ۱ | آيـا تـا د انسـان د وجـود پـه اړه د پوښـتنو ځوابونـه وپیژنـدل؟ | | | | |
| ۲ | آيا تـه کولـی شـې د اسـلام معنا پـه ساده ډول تشـريح کـړې؟ | | | | |
| ۳ | آيا ته اسلام ته د داخلېدو طريقه پېژنې؟ | | | | |
| ۴ | آيا ته د دوو ګواهيانو په معنا پوهېږې؟ | | | | |
| ۵ | آيـا تـه کولـی شـې د دوو ګواهیانـو لازم خيزونـه شـرحه کـړې. | | | | |
| ٦ | آيا ته د ايمان رکنونه (ستنې) پېژنې؟ | | | | |
| ۷ | آيـا تـه پـه الله تعالـی د ايمـان لرلـو معنـا شـرحه کولـی شـې؟ | | | | |
| ۸ | آيا ته په ملايکو د ايمان لرلو معنا شرحه کولی شې؟ | | | | |
| ۹ | آيـا تـه پـه رالېږلـو شـويو کتابونـو د ايمـان لرلـو معنـا شـرحه کولـی شـې؟ | | | | |
| ۱۰ | آيـا تـه پـه پيغمبرانـو د ايمـان لرلـو معنـا شـرحه کولـی شـې؟ | | | | |
| ۱۱ | آيـا تـه کولـی شـې د آخـرت پـه ورځ د ايمـان لرلـو معنـا شـرحه کـړې؟ | | | | |
| ۱۲ | آيـا تـه کولـی شـې پـه تقديـر د ايمـان لرلـو معنا شـرحه کـړې؟ | | | | |
| ۱۳ | آيـا تـه پوهېـږې چـې دوه ګواهيانـې څنګـه پـه سـمه توګـه تلفـظ کـړې؟ | | | | |
| ۱٤ | آيا ته پوهېږې چې نـوی مسـلمان څنګه خپل ايمان پیاوړی کـړي؟ | | | | |
| ۱٥ | آيـا تـه پـه زړه کـې د اسـلام لـه ديـن سـره د مينـې احسـاس کـوې؟ | | | | |



## دویم فصل

# قرآن کریم





## د فصل لوستونه:

١ قرآن کریم وپېژنه

٢ د لنډو سورتونو تفسیر









## لومړی لوست

# قرآن کریم وپېژنه

**پیلیزه**

کله چې الله جل جلاله پیغمبران د هغوی د قومونو د بلنې لپاره راولېږل، نو دوی ته یې داسې معجزې ورکړې چې په وسیله یې خپل قوم ته د نبوت حق ثابت کړي، خو د پیغمبرانو معجزې د هغوی په مړینې سره پای ته رسېدلې، پداسې حال کې چې د اسلام د پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم- لپاره الله تعالی ښکاره معجزه د هغه د قوم او د ټولو خلکو لپاره رالیږلې ده چې هغه (د الله غالب کتاب - قرآن کریم- دی) چې د ساتلو ذمه واري یې الله تعالی د هغه له مرگ نه وروسته هم کړې ده. او په دې لوست کې مونږ د قرآن کریم ځینې ادبونه او فضیلتونه پېژنو.

## قرآن کریم څه شی دی؟

قرآن کریم د الله - تعالی - هغه کلام دی چې په خپل پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم - یې نازل کړی دی، او هغه د الله - تعالی - وروستی رالېږل شوی کتاب دی، د هغه نه وروسته بل کتاب نشته.

نازل شوي کتابونه: دا هغه کتابونه دي چې الله تعالی په خپلو پیغمبرانو رانازل کړي دي.
مسلمان په دې کتابونو باور لري او یقینا چې دا د الله تعالی لخوا نازل شوي دي، او دا چې الله تعالی پدې سره وینا کړې ده ځرنگه چې د هغه د شان سره مناسب وي، او لدې کتابونو څخه ځینې دا دي:
زبور: کوم چې په داود - علیه السلام - نازل شوی، تورات: کوم چې په موسی - علیه السلام - نازل شوی، انجیل: کوم چې په عیسی - علیه السلام - نازل شوی، او د زماني په اوږدو کې په دې کتابونو کې تحریف او بدل شوي دي.

## د قرآن کریم د لوستلو فضیلت:

- پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «چا چې د الله تعالی له کتاب څخه یو حرف ولوست، نو دي لره په دې باندې یوه نېکي ده، او یوه نېکي په لس چنده ده، زه نه وایم: (الم) یو حرف دی، بلکې الف حرف دی، لام حرف دی، او میم حرف دی». ترمذي په سننو کې په صحیح سند سره روایت کړی (۲۹۱۰ شمېره حدیث).
- او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «قرآن کریم ولولئ، ځکه چې دا به د قیامت په ورځ د خپلو لوستونکو لپاره سپارش کوونکی وي» مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی (۸۰۴ شمېره حدیث).

## قرآن کريم د روح او عقل غذا ده:

**قرآن  کريم د انسانانو عقلونه او روحونه په برابره توګه مخاطب کړي، نو هغه عقل لدې لارو مخاطب ګرځولی:**

- د قضيو په اړه عقلي استدلال، الله تعالی فرمايلي: (كه چېرې په دغو (ځمكه او اسمان) كې له الله تعالی نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالک؛ پاک دی له هغو خبرو چې دوی يې بيانوي) (الأنبياء: ۲۲).
- د عقل په کار اچوونې ته رابلل او همدارنګه په دليلونو او معجزو کې فکر کول، الله تعالی فرمايلي: ﴿كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ﴾ (الله تعالی همداسې ستاسو لپاره آيتونه بيانوي د دې لپاره چې تاسو ښه فکر وکړئ) (البقرة: ۲۱۹).
- د هغه چا بدي بيانول چې د عقل څخه استفاده نه کوي، او فکر پرې نه کوي، الله تعالی فرمايلي: ﴿أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَٰمِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا﴾ (آيا ته ګومان کوې چې په رښتيا د دوی زياتره اوري، يا له عقل نه کار اخلي، دوی نه دي مګر په شان د څاروېو بلکې دوی د لارې په لحاظ زيات ګمراه دي) (الفرقان: ۴۴).

او د دوی روحونه او احساسات د دې لارې نه په ګوته کوي:

- د احساساتو څرګندول، او روښانه کول، او په ډېرو حالاتو کې د هغې انځورول، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ﴾ (او په خلکو کې ځينې هغه خوک دي چې له الله نه غير شريکان نيسي، له هغوی سره داسې مينه کوي لکه له الله تعالی سره د مينې په شان، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ له الله سره په مينه کې ډېر سخت (او کلک) دي) (البقرة: ۱۶۵).
- د انساني احساساتو په اړه يادونه، او د هغې د ښه او بد پايلو بيان، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَٰرَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ﴾ (او خامخا لازما به ته له مومنانو سره په دوستۍ کې تر ټولو خلکو زيات نږدې هغه  کسان مومې چې ويلي يې دي: مونږ نصرانيان يو، دا ځکه چې په دوی کې په رښتيا عبادت کوونکي عالمان او راهبان دي او دا ځکه چې واقعا دوی تکبر نه کوي) (المائدة : ۸۲ ).
- دعوت کې په مهرباني او نرمۍ باندې امر، الله تعالی فرمايلي: ﴿ ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ ۖ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ (د خپل رب لارې ته په حکمت او ښکلي نصيحت سره بلنه کوه او له دوی سره په هغې طريقې سره مجادله (مباحثه) کوه چې هغه تر ټولو ښه وي) (النحل: ۱۲۵).
- د احکامو په آيتونو کې ايماني معناوې شاملې دي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ﴾ (له دې نه مخکې تاسو هم همداسې وئ، بيا پر تاسو باندې الله تعالی فضل وکړ) ( النساء : ۹۴ ).
- د هغو کلېمو کارول چې په نفس باندې اثر کوي، او ريښتيني احساسات راپاروي، الله تعالی فرمايلي: ﴿أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ﴾ (آيا تاسې دا خوښ نه ګڼئ چې الله تعالی تاسې ته بخښنه وکړي) (النور: ۲۲).

او کله نا کله عقلي او روحي دواړه خطابونه په يو ايت کې سره يوځای کوي، د عقل سره مباحثه کوي او قناعت ورکوي، په عين وخت کې احساسات راپاروي، الله تعالی فرمايلي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ مِنْ خَٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ﴾ (اې خلقو! تاسو د الله هغه نعمتونه ياد کړئ چې په تاسو شوي دي، ايا له الله نه غير (بل) خالق شته، چې تاسو ته له اسمان او ځمکې نه رزق درکوي؟ نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، نو کوم اړخ ته تاسو ګرځولی کېږئ). ( فاطر : ۳ ).

## بحث وکړه

**تا د اسلام نه مخکې کوم آیتونه مطالعه کړي؟ او په تا باندې يې اثر څرنګه و؟**

.....................................................................

.....................................................................

.....................................................................

.....................................................................

## قرآن کريم د ژوند تګلاره ده:

قرآن کريم د الله تعالی کلام دی، هغه ذات چې ټول خلک يې پيدا کړي دي، او هغه په دوی باندې د دوی د ځانونو څخه هم ډير خبر دی، او ډير خبر دی په هغه څه چې دوی ته ګټه او يا ضرر رسوي، لدې امله الله - تعالی - قرآن کريم -دټولو رالېږل شوو کتابونو روستی کتاب- د تګلارې کتاب ګرځولی، کوم چې د خلکو لپاره د هغوی د ژوند تګلاره جوړوي.

او دا خبره د لاندې ټکو څخه څرګندېږي:

**د درملنې پراخوالی:** دا د انساني ژوند درملنه په دريو برخو کې کوي: شخصي، کورنۍ او ټولنيزه.

**د هغه د مضوعاتو شموليت:** او هغه د عقايدو، عبادتونو، عادتونو، اجتماعي او مالي اړيکو، عقلي، احساساتي او بدني اړخونو، بين المللي اړيکو، د جنګ او سولې وختونو، او نورو ته شامليږي.

**انصاف:** دا داسې کتاب دی چې په هر حال کې په عدل او انصاف باندې امر کوي، حتا د دښمنانو سره هم، او په هر شکل باندې د ظلم نه منع کوي.

**قرآن کريم د خلکو لپاره د هغوی د ژوند تګلاره جوړوي، او هغوی ته دهغوی حقونه او دندې بيانوي، او هغوی ته د هغوی حقونه او په هغوی چې څه لازم وي ورښايي، په خورا نرمۍ سره چې د هغه قانون د هر وخت او ځای لپاره مناسب وي.**



پر مسلمان باندې لازمه ده چې د قرآن کريم تلاوت کولو او د هغه د احکامو يادولو باندې ټينګار وکړي

## په قرآن کریم کې د پېغمبرانو کیسې:

قرآن کریم د پخوانیو پېغمبرانو او د هغوی د قومونو له کېسونو نه ډک دی، له آدم علیه السلام نه په پیل سره، او وروسته نوح، هود، صالح، شعیب، ابراهیم، اسماعیل، اسحاق، یعقوب، موسی، عیسی علیهم السلام، او همدارنګه نور پېغمبران او رسولان. قرآن کریم د دوی کیسې د حکمتونو پر اساس ذکر کړي، چې ځینې یې دا دي:

- د دې خبرې بیان چې د ټولو پېغمبرانو دین یو دی، چې اساس یې د الله تعالی یووالی دی.
- د محمد - صلی الله علیه وسلم - تسلي او کلکوالی، د هغه سره چې خلکو څه کړي وو له هغه نه مخکې پېغمبرانو سره هم شوي وو.
- د مسلمانانو د تسلی لپاره چې دوی ته څه مصیبت او سختیانې رسېږي د الله تعالی عزتمندو بنده ګانو ته د دوی نه مخکې رسېدلي دي.
- د دې څخه عبرت اخېستل، ځکه چې دا حقیقي او واقعي کیسې دي.

### تمرین

د قرآن کریم له ځانګړتیاوو څخه:

د قرآن کریم له فضیلتونو څخه:

د راتلونکو عبارتونو څخه یو عبارت په خپله مناسبه خانه کې د تړاو له مخه کېږدئ:

- خپلو وېونکو لره په سپارش کوي
- د الله تعالی وینا
- په دعوت کې په نرمی او مهربانی باندې امر کوي
- د عقل څخه کار اخېستلو ته بلنه ورکوي
- داسې الفاظ استعمالوي کوم چې په نفسونو کې اثر کوي
- په نازل شوو کتابونو کې وروستی کتاب دی
- پر محمد صلی الله علیه وسلم باندې رانازل شوی

# قرآن کریم



**د سورتونو شمیر یې**

۱۱۴ سورتونه دي

**د قرآن کرېم اعجاز**

د عربو کافرانو د قرآن کریم نه انکار وکړ، نو الله تعالی هغوی وننګول چې د دې په څیر کتاب، یا د دې په څیر یو سورت، یا د دې په څیر لس آیتونه راوړي، نو دوی د دې نه عاجز پاتې شول.

**ژبه یې**

الله تعالی په عربي ژبه رانازل کړی.

**سرچینه یې**

الله - تعالی - د جبریل -علیه السلام- په واسطه پر محمد - صلی الله علیه وسلم - باندې نازل کړی.

**د آیتونو شمیر یې**

٦٢٣٦ آیتونه.

**نازلېدل یې**

الله تعالی په مکه او مدینه کې د ۲۳ کلنو په موده کې جلا جلا رانازل کړی.

**نومونه یې**

الله تعالی په قرآن، کتاب، فرقان او ذکر سره نومولی، او نور نومونه یې هم شته.

**ستري او مهمې موضوعګانې یې**

**د هغو مهمو موضوعاتو له جملې څخه چې په قرآن کریم کې تحلیل شوي دي:**

- د الله تعالی پر یووالي باندی بحث او هغه سره د شرک کولو رد.
- د کایناتو په اړه وینا کول د هغه د جوړوونکي په ښه جوړونې باندې دلالت کوي.
- د قرآن کریم کېسې د عبرت او پندونو نه ډکې دي.
- د پیدایښت د پیل او له مرګ وروسته د خلکو د راژوندي کیدو او د هغوی د عملونو د بدلې ورکولو په اړه وینا.
- د مومنانو لپاره د روزنې او قانون جوړونه.

١ قرآن کريم په مسایلو کې د عقلي استدلال له لارې عقل ته خطاب کوي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

٢ الله تعالی ولې قرآن کريم نازل کړی؟

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

٣ دا ويب سايټ وګوره «alnaba.ws» بيا ځينې هغه دليلونه بيان کړه چې د قرآن کريم په ريښتنولۍ او د هغه په اثبات دلالت کوي، او د هغه د معجزو ځينې اړخونه په ګوته کړه.

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

.....................................................................................................

٤ الله تعالی قرآن کريم رانازل کړی دی په:

- ◯ أ) ټولو پيغمبرانو.
- ◯ ب) محمد ﷺ .



## دویم لوست

# د لنډو سورتونو تفسیر

**پیلیزه**

الفاتحه سورت د قرآن لوی او ستر سورت ګڼل کېږي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرو احادیثو کې د هغې په فضیلت او عظمت ټینګار کړی، دا هغه سورت دی چې هر مسلمان یې باید په یادو حفظ کړي، ځکه چې دا یوازینی سورت دی چې باید په هر لمانځه کې یې تلاوت وشي، او په دې لوست کې به لدې سورت سره آشنا شو، آیاتونه به یې حفظ کړو او معناوې به یې زده کړو، او همدارنګه به د قرآن کریم یو شمیر لنډ سورتونه زده کړو کوم چې سترې معناوې لري.




## د سورت معنا:

**د سورت معنا:**

﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ١﴾

د قرآن کریم لوستل د الله تعالی په نوم سره پېلوم او د هغه نه مرسته غواړم، (الله) په حقه سره د بنده ګۍ حقدار، د عامې مهربانۍ په ځانګړتیا سره یاد شوی چې ټولو مخلوقاتو ته شامله ده، او په خپلو مومنانو بنده ګانو خاص مهربان دی.

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢﴾ (ټول ثنا او صفت خاص الله تعالی لره دي چې پالونکی د ټولو مخلوقاتو دی). د الله تعالی ستاینه کول د هغه په بشپړو صفتونو سره، او د هغه په نعمتونو سره په ټولو خلکو، نو یوازې هغه د هر ډول ستاینې حقدار دی، او هغه د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، کوم چې یې د نشت څخه پیدا کړي دي، او د هغوی د چارو سمبالونکی دی، او د هغوی د حالاتو سموونکی دی.

﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣﴾ (عام مهربان دی، خاص مهربان دی).

**الرحمن:** د ټولو مخلوقاتو لپاره په عامه مهربانۍ سره ياد شوی دی، او **الرحيم:** د مومنانو لپاره په خاصه مهربانۍ ياد شوی دی. .







﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤﴾ (څښتن دی د ورځې د بدلې) د قيامت د ورځې څښتن دی، چې د عملونو د حساب او په هغې د بدلې ورکولو ورځ ده.

﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ٥﴾ (خاص ستا بنده ګي کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو) ربه يوازې ستا بنده ګي کوو، او يوازې خاص ستا نه په ټولو چارو کې مرسته غواړو، ځکه چې د ټولو چارو واک ستا په لاس کې دی.

﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦﴾ (مونږ ته سمه نېغه لاره وښايه) مونږ ته د سمې لارې ښودنه وکړه، او مونږ په هغې باندې کلک کړه تر هغه چې تا سره مخ شو، او هغه اسلام دی، هغه ښکاره لاره چې ستا خوښۍ او جنتونو ته رسوونکې ده.

﴿صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ٧﴾ (لاره د هغو کسانو چې تا په هغوی باندې نعمت کړی، نه لاره د هغو کسانو چې په هغوی باندې غضب کړی شوی او نه (لاره) د ګمراهانو). او دا لاره د هغو خلکو ده چې تا په هغوی باندې پېرزوينه کړې له پيغمبرانو او د هغوی له ملګرو څخه او هغه څوک چې د هغوی په لاره تللي، نو خاص هغوی د هدايت او استقامت خاوندان دي.

او مونږ د هغه چا د لارې نه لرې وساته چې تا په هغوی باندې غضب رانازل کړی، ځکه چې هغوی حق پېژندلی خو عمل يې پرې نه دی کړی، او د ګمراهانو له لارې نه؛ کومو چې د ناپوهۍ له وجې د حق لاره نه ده پېژندلې.

## بحث وکړه

**د سورت فاتحې د يادولو لپاره مرستندويه وسيلې څه دي؟**

..............................................................................................................

..............................................................................................................

## د اخلاص سورت:

**د سورت معنا:**




﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ①﴾ (ته دوی ته) ووایه (ای نبي) ! الله تعالی یو دی ته ووایه -اې پېغمبره- چا چې ستا نه ستا د رب د ځانګړتیاو پوښتنه وکړه: هغه الله تعالی دی په الوهیت او ربوبیت کې یوازې دی، د هغه نه غیر بل څوک د بنده ګی حقدار نشته.

﴿ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ②﴾ (الله تعالی بې نیازه دی) او هغه الله تعالی دی؛ په خپلو صفتونو کې پوره -ذات- دی، او دا هغه ذات دی چې خلک یې د خپلو حاجتونو د پوره کولو لپاره رابولي او هغه د دوی نه بې نیازه دی.

﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ③﴾ (نه د چا نه پیدا دی او نه ترې څوک پیدا دي) او هغه الله تعالی دی چې اولاد ورله نشته، نه زوی او نه لور، او نه ورله مور او پلار شته.

﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌ ④﴾ (او نه ورله څوک سیال او برابر شته) هغه په خپل مخلوق کې هیڅ مشابهت نلري، نه په ذات کې، نه په نومونو کې، نه په صفاتو کې او نه په کړنو کې.

## الفلق سورت:

**د سورت معنا:**




﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ①﴾ ووایه (اې پېغمبره): زه پناه نیسم په رب د سبا پورې ته ووایه -اې پېغمبره-: پناه غواړم په الله تعالی پورې چې رب د سبا دی، او هغه د سبا راختل دي.

﴿مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ②﴾ د شر د هغه څه نه چې پیدا کړي یې دي د شر د ټولو مخلوقاتو نه چې الله تعالی پیدا کړي دي، هغه چې مونږ یې وینو او هغه چې نه یې وینو.

﴿وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ③﴾ او د تیارې شپې د شر نه کله چې راخوره شي او د شپې د شر نه کله چې یې تیاره راخوره شي، او په دې کې چې کوم شرونه او ضرر رسوونکي ځیزونه دي.


الفلق: د سبا راختل.


الغسق: د شپې تکه توره تیاره.

﴿وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِى ٱلۡعُقَدِ ٤﴾ او د شر د هغو (جادوګرو) ښځو نه چې په غوټو کې پوکي وهونکي دي او د شر د هغو جادوګرو ښځو څخه کومې چې په غوټو کې پوکي کوي کله چې د جادو کړنې ترسره کوي.

﴿وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ٥﴾ او د شر د کينه کوونکو نه کله چې کينه ښکاره کړي. او د شر د کينه کوونکي نه کوم چې د يو چا نه د نعمت د لرې کولو هيله کوي، او هغه ته ضرر ورسيږي.




## الناس سورت:

**د سورت معنا:**

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾ ووايه (اې پېغمبره): زه پناه غواړم په رب د خلکو پورې. ته ووايه -اې پېغمبره-: پناه وړم الله تعالی ته چې پالوونکی د خلکو دی، يوازې همدا په هر شي قادر دی.

﴿مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢﴾ د خلکو پادشاه او ښبتن دی. د ټولو خلکو پادشاه دی، د هغوی په ټولو چارو کې تصرف کوونکی دی.

﴿إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣﴾ د خلکو حقيقي معبود دی. د ټولو خلکو حقيقي معبود دی، د هغه نه پرته دوی لره بل څوک د بنده ګۍ حقدار نشته.

﴿مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤﴾ د شر د وسوسې اچوونکي، پټېدونکي نه. د شيطان د ضرر نه کوم چې دوی ته د غفلت په وخت کې وسوسې وراچوي، او کله چې الله تعالی يادوي نو بيا دا کار نشي کولی.

﴿ٱلَّذِى يُوَسۡوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥﴾ هغه چې د خلکو په سينو کې وسوسې اچوي. هغه چې د خلکو په سينو کې غلط فکرونه اچوي، او د هغوی په احساساتو او فکرونو لوبې کوي.

﴿مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦﴾ له پېريانو او انسانانو څخه. د انسي او جني شيطانانو څخه.

## الکافرون سورت:

**د سورت معنا:**




﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴿١﴾﴾ (اې پېغمبره!) ته (دوی ته) ووایه: اې کافرانو. اې -پېغمبره- ته هغو کسانو ته ووایه چې په الله تعالی او د هغه پر رسول یې کفر کړی: اې په الله تعالی باندې کفر کوونکو.

﴿لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾﴾ زه د هغو (شیانو) عبادت نه کوم چې تاسو یې کوئ. زه د هغو باطلو خدایانو بنده ګي نه کوم چې تاسو یې کوئ، لکه بتان او داسې نور.

﴿وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٣﴾﴾ او نه تاسو د هغه ذات بنده ګي کوئ چې زه یې کوم. او نه تاسو د هغه حقدار پرودګار بنده ګي کوئ کوم چې زه یې کوم، او هغه یوازې د بنده ګۍ حقدار دی..

﴿وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ﴿٤﴾﴾ او نه زه د هغه شي بنده ګي کوم چې تاسو یې بنده ګي کړې ده. او نه زه د هغو باطلو خدایانو بنده ګي کوم چې تاسو یې بنده ګي کوئ..

﴿وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٥﴾﴾ او نه تاسو بنده ګي کوونکي یاست د هغه ذات چې زه یې بنده ګي کوم. او نه تاسو د هغه حق پروردګار بنده ګي کوئ کوم چې زه یې بنده ګي کوم، او هغه یوازې د بنده ګۍ حقدار دی.

﴿لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ﴿٦﴾﴾ ستاسو لپاره ستاسو دین دی او زما لپاره زما دین دی. ستاسو لپاره ستاسو دین دی کوم چې تاسو پرې یاست، او زما لپاره زما هغه دین دی چې ما رانیولی.

کافر: هغه چا ته ویل کېږي چې د (الله تعالی) د توحید ګواهي یې نه وي ورکړې او د محمد - صلی الله علیه وسلم - د پېغمبرۍ تابعداري یې نه وي کړې.

**بحث وکړه**

**سورت اخلاص او کافرون په کومو موضوع ګانو تاکید کړی؟**

.....................................................................

.....................................................................

.....................................................................

.....................................................................

## الکوثر سورت:

**د سورت معنا:**

﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ١﴾ بېشكه مونږ تا ته كوثر دركړى. اې پیغمبره مونږ تا ته ډېر خير دركړى چې هغه لره هېڅ حساب او شميرل نشته په دنيا او اخرت كې، او د دې خير له جملې څخه په جنت كې د كوثر نهر دى.




شانئک: يعني هغه څوک چې تا بد ګڼي، او ستا د حق دين سره کينه کوي.

﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ٢﴾ نو ته د خپل رب لپاره لمونځ او قرباني كوه. نو ته دې خپل رب ته لمونځ او قرباني خاص كړه، او يوازې د هغه بنده ګي وكړه چې هغه لره هېڅ شريک نشته، او يوازې د هغه په نوم قرباني وكړه چې يوازې دى او هغه لره هېڅ شريک نشته، او د هغه شكر ادا كړه چې هغه تا ته عزت او خير دركړى.

﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ٣﴾ بېشكه ستا دښمن هم هغه بې بنياده (بې اولاده) دى. بېشكه ستا سره حسد كوونكى او ستا د حق دين سره حسد كوونكى، همدغه كمزورى، ذليل، د خلكو نه هير شوى او د خير نه محروم دى.

## العصر سورت:

**د سورت معنا:**




﴿وَٱلۡعَصۡرِ ١﴾ قسم دى په عصر (مازیګر، يا زمانه). الله تعالى په زمانه او وخت باندې قسم كړى په كوم كې چې د انسانانو حركتونه واقع كېږي، د خير او شر څخه.

﴿إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢﴾

بېشكه انسان په تاوان كې دى. بېشكه انسان په تاوان او هلاكت كې دى.

﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣﴾

غير له هغو كسانو نه چې ايمان يې راوړى او نېک عملونه يې كړي، او يو بل ته يې د حق دين وصيت كړى، او يو بل ته يې د صبر وصيت كړى. مګر هغه كسان چې په الله تعالى يې ايمان راوړى او نېک عملونه يې كړي، او ځينو يې نورو ته د حق قبلولو او په هغه باندې د كلک پاتې كېدلو وصيت كړى، او په دې باندې د صبر كولو وصيت يې كړى.

# شخصي ارزونه

| م | تعليمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ۱ | آيا ته کولی شي دا شرحه کړی چې قرآن کريم څه شی دی؟ | | | | |
| ۲ | آيا ته کولی شي د قرآن کريم او زنده ګۍ ترمنځ تړاو باندې فکر وکړې؟ | | | | |
| ۳ | آيا ته پوهېږې چې الله تعالی په قرآن کريم کې ولې د پيغمبرانو کيسې ذکر کړي؟ | | | | |
| ٤ | آيا ته د سورت فاتحې لنډه معنا باندي پوهېږي؟ | | | | |
| ٥ | آيا ته د سورت اخلاص لنډه معنا باندي پوهېږي؟ | | | | |
| ٦ | آيا ته د سورت الفلق په لنډه معنا باندي پوهېږي؟ | | | | |
| ٧ | آيا ته د سورت الناس په لنډه معنا باندي پوهېږي؟ | | | | |
| ٨ | آيا ته د سورت الکافرون په لنډه معنا باندي پوهېږي؟ | | | | |
| ٩ | آيا ته د سورت الکوثر لنډه معنا باندي پوهېږي؟ | | | | |
| ١٠ | آيا ته د سورت العصر په لنډه معنا باندي پوهېږي؟ | | | | |
| ١١ | آيا ته سورت الفاتحه سم لوستلی شي؟ | | | | |
| ١٢ | آيا ته وتوانيدي چې سورت فاتحه حفظ کړې؟ | | | | |
| ١٣ | آيا سورت اخلاص په سمه توګه لوستلی شي؟ | | | | |

| م | تعلیمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ۱۴ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الاخلاص حفظ کړې؟ | | | | |
| ۱۵ | آیا سورت الفلق په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |
| ۱۶ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الفلق حفظ کړې؟ | | | | |
| ۱۷ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الناس په سمه توګه ولولې؟ | | | | |
| ۱۸ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الناس حفظ کړې؟ | | | | |
| ۱۹ | آیا سورت الکافرون په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |
| ۲۰ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الکافرون حفظ کړې؟ | | | | |
| ۲۱ | آیا سورت کوثر په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |
| ۲۲ | آیا ته وتوانیدې چې سورت الکوثر حفظ کړې؟ | | | | |
| ۲۳ | آیا سورت العصر په سمه توګه لوستلی شې؟ | | | | |
| ۲۴ | آیا ته وتوانیدې چې سورت العصر حفظ کړې؟ | | | | |
| ۲۵ | کوم سورتونه دې چې لوستلې دی، آیا د هغوی معناوې احساسوې؟ | | | | |



## دریم فصل

# عبادتونه







## د فصل لوستونه:

١ بنده ګي
٢ پاکوالی
٣ اودس
٤ غسل
٥ ځينې هغه حکمونه دي چې مسلماني ښځې لپاره ځانګړي دي
٦ لمونځ
٧ زکات
٨ روژه
٩ حج







## لومړی

# بنده ګي

### پیلیزه

مسلمان په خپل ژوند کې یو شمېر عبادتونه کوي چې د هغې له لارې خپل خالق ته نږدې کېږي، او دا ټول عبادتونه د الله عزوجل د لویي او یوازې هغه ته د عاجزۍ لپاره دي پرته له نورو څخه، او څومره چې د مسلمان په زړه کې د الله تعالی درناوی وي همغومره یې اثر په بنده ګۍ کې ښکاره کېږي، او رښتنی مسلمان هغه دی چې د هغه ټوله زنده ګي، چارې، خوب او تفریح ټول خاص د الله تعالی د رضا لپاره وي، د الله تعالی د دې وینا مطابق: ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ ته ووایه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله تعالی لپاره دی. ﴿لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴾ هغه لره هېڅ شریک نشته، او ماته د همدې (توحېد) حکم شوی دی او زه تر ټولو مسلمانانو اول یم. (الانعام: ۱٦۲ ـ۱٦۳) او په دې لوست کې به مونږ د عبادت معنا، ډولونه، د قبلېدو شرطونه، او درجې یې وپېژنو..

### د عبادت معنا:

**عبادت:** دا هغه عملونه دي کوم چې الله تعالی روا کړي تر څو مسلمان پرې هغه ته ځان نږدې کړي، او په دې کې ټول عملونه او ویناوې شاملې دي کومې چې الله تعالی خوښوي، که هغه ښکاره وي؛ لکه بدني عبادتونه، لکه: لمونځ او حج، یا که ښکاره نه وي؛ لکه د زړه عبادتونه لکه: د الله تعالی محبت، وېره او امید او نور د زړه عبادتونه. او بنده کولای شي خپل عادتونه په ښه نیت سره په عبادت بدل کړي. که د الله تعالی عبادت ته د ځواکمن کېدو په نیت خوراک، څښاک او خوب وکړي، نو په دې سره ورته ثواب ورکول کېږي.

## د عبادت ډولونه:

عبادتونه مختلفو ډولونو باندې تقسیمېږي:

**د زړه عبادتونه**

مسلمان یې په خپل زړه سره کوي، لکه: مینه، ویره، امید او عاجزي.

امید: هغه د الله تعالی په فضل خوشحالېدل، او د هغه د احسان او ورکولو طمع کول، په داسې حال کې چې هڅه کول او په الله باندې ښه توکل کول.
عاجزي: دا هغه شکل دی چې روح پکې ارام وي او ذهن پکې د عبادت په وخت کې نه ګډوډېږي، لکه لمونځ او اغیز یې د غړو په ارامتیا کې څرګندېږي.

**بدني عبادتونه**

چې مسلمان یې په بدن سره کوي، لکه: زکات او حج.

**د پرېښودلو عبادتونه**

مسلمان خپل رب ته د حرامو په پرېښودلو سره ځان نږدې کوي، لکه: د شرابو او زنا پرېښودل، او یا په ځینو وختونو کې ځینې مباح کارونه پرېښودل، لکه په روژه کې خوراک او څښاک پرېښودل.

## د عبادتونو د قبلېدو شرطونه:

ریاء (ځان ښودنه): دا چې مسلمان په خپل عبادت سره دا هدف وګرځوي چې خلک یې د بنده ګۍ په حال کې وګوري، او د دې په وجه یې وستایي.

**د عبادت د قبلېدو لپاره دوه شرطونه لازم دي:**

**لومړی:** الله تعالی ته اخلاص کول، نو مسلمان د شرک او ریا پرته یوازې الله تعالی ته د نږدې کېدو لپاره عبادت کوي.

**دویم:** د الله تعالی له قانون سره سمون، نو مسلمان عبادت په هغه ډول کوي لکه څرنګه چې الله تعالی روا کړې، او لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کړې دی.

### بحث وکړه

ریا کار سړی الله ته د اخلاص په پرېښودلو سره څه دلاسه ورکوي؟

.....................................................................

.....................................................................

.....................................................................

.....................................................................

.....................................................................

.....................................................................

## د عبادتونو درجې (مرتبې):

**عبادت مختلفې درجې دي: ځينې يې:**

هغه دي چې په هر مسلمان باندې واجب دي، لکه: لمونځ. او ځينې يې هغه دي چې په ځينو مسلمانانو باندې واجب دي: لکه: زکات، نو دا يوازې په مالدارو فرض دی. او د ځينو: کول يې مستحب دي خو واجب نه دي، لکه: د لمانځه نه وروستو دعاګانې او ذکر.

### تمرين

**د لاندې عبادتونو څخه هر يو عبادت په خپله مناسبه خانه کې کېږدی د هغه د مرتبې په اساس په اسلام کې:**

- د سهار اذکار
- د ماښګر لمونځ
- حج
- مور او پلار سره نېکي کول
- زکات
- روژه رمضان

**په هر مسلمان باندې واجب دي:**

**په ځينو مسلمانانو باندې واجب دي:**

**مستحب دي او واجب نه دي:**

١ د دې ویډیو کلیپ له مخې (Why do i surrender to Allah?) ولې زه الله ته تسلیم شم؟) د هغې نتیجې په اړه خبرې وکړئ چې یو مسلمان یې یوازې د الله تعالی په مراد باندې تمرکز کولو او په خپلو ټولو کارونو کې یوازې هغه ته په اخلاص کولو سره ترلاسه کوي.

د ویډیو کلیپ لیدلو لپاره بارکوډ سکن کړه

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

............................................................

٢ د نیک عمل د قبلېدو لپاره لازم دي چې خاص د الله تعالی لپاره وي او د هغه د شریعت سره موافق وي.

- سم
- ناسم



## دویم لوست

# پاکوالی

## پیلیزه

اسلام پاکوالي او نظافت ته بلنه کوي، او په دې يې ټينگار کړی چې مسلمان بايد د خپل ځان پاکوالی په پام کې ونيسي، او دا مسئله يې د دين له نخښو څخه گرځولې، او د ډېرو عبادتونو صحت يې د مسلمان له پاکوالي سره تړلی، او دا د مسلمان د ځانگړتياوو څخه دي؛ له هغو ځانگړتياوو څخه چې مسلمان پرې د نورو څخه توپير کيږي، او په دې لوست کې به مونږ د پاکوالي معنا، ډولونه او په دې اړه ځينې احکام زده کړو.

### د پاکوالي معنا:

**پاکوالی**

| الله تعالی ته بنده گي کول | د بې اودسی په لرې کولو سره | او د پليتيانو لرې کول |
|---|---|---|
| دا د يو کار قصد کول دي الله تعالی ته د تابعدارۍ او نژدېکت په نيت. | بې اودسي د هر هغه شي لپاره يو شرعي صفت دی چې په غړو کې ورگډيږي او له امله يې پاکوالی لرې کيږي. | دا هغه پليت شيان دي چې شريعت يې د لرې کولو او د هغه د پاکولو امر کړی، لکه تش او ډک اودس ماتي. |

**اضافي مطالعه**

د طهارت د احکامو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره (اسلام کې پاکوالی) کتاب ولولئ، چې په خو نړيوالو ژبو (اصول پلورنځي) کې شتون لري.

د کتاب د ډاونلوډولو لپاره بارکوډ سکين کړه.

## د پاکوالي ډولونه:

پاکوالی دوه ډولونو باندې ویشل کیږي:

### حسي پاکوالی

د نجاستونو له لیرې کولو او د (نجاستونو د ځای) له پاکولو څخه یې عبارت دی

او د هغه لاملونو له منځه وړل دي چې د لمانځه مانع ګرځي؛ او دا د بدن د ځینو برخو په مینځلو او یا د ټول بدن په مینځلو سره کیږي.

### معنوي پاکوالی

او دا د مؤمنانو په حق کې له شرک، حسد، کینې او داسې نورو قلبي ناروغیو څخه د زړه پاکوالی دی، او دا پاکوالی لکه د بدن د پاکوالي په څېر مهم دی؛ بلکه دا ناشونې ده چې د بدن شرعي پاکوالی د شرک د نجاست په شتون کې پاتې شي - الله تعالی فرمایلي دي: ﴿إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ﴾[التوبة:٢٨] {یقینا چې مشرکان نجس دي}.

حسي پاکوالی یا په اوداسه او یا په ځان وینځلو سره کیږي



د اوداسه څخه مراد: د بدن د ځینو غړو وینځل دي په اوبو سره.



د غسل نه مراد: په اوبو سره د ټول بدن وینځل دي.



په پاکوالي کې پاکې اوبه استعمالیږي، لکه د دریابونو، سیندونو، کوهیانو (څاګانو)، او یا نورې هغه اوبه چې پلیتي ورسره نه وي یوځای شوي.نجاسة.

## د پاکوالي اړوند ځينې حکمونه:

- اصل په شيانو کې پاکوالی دی، او د يو شي په پليتۍ باندې تر هغه وخته حکم نشي کېدلی تر څو چې يې شريعت په ناپاکۍ حکم نه وي کړی.
- د بدن او يا جامو په پاکوالي کې د پليتۍ لرې کولو لپاره په اوبو او يا کوم بل پاکوونکي شي باندې بسنه کوي.
- کله چې انسان د حاجت رفع کولو لپاره حمام ته ننوځي، نو غوره دا ده چې د تش اودس ماتي او ډک اودس ماتي ځايونه په اوبو سره پاک کړي، او دا هم جايز ده چې په تشناب کاغذ، او يا بل پاکوونکي شي سره يې پاک کړي.

**بحث وکړه**

**د يو مسلمان د پاکوالي او شخصي حفظ الصحې په اړتيا باندې ټينگار په څه باندې دلالت کوي؟**

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

.............................................................................................................................

## د ارزونې پوښتنې

سم ځواب غوره کړئ:

١ د پاکوالي معنا:

- أ) د بې اودسې لرې کول.
- ب) د پلیتۍ لرې کول.
- ج) ټول سم دي.

٢ په اوبو سره د ټول بدن مینځلو ته وایي:

- أ) اودس.
- ب) غسل.
- ج) تیمم.

٣ پاکوالي عموما دوه ډولونه لري؛ هغه دا دي:

- أ) حسي او معنوي پاکوالی.
- ب) اودس او تیمم.
- ج) اودس او غسل کول.



## درېیم لوست

# اودس

**پیلیزه**

اودس په اسلام کې خپل ارزښت د فرضي لمانځه سره د نژدې تړاو له امله لري چې د اسلام تر ټولو لویه نخښه ده، او له همدې امله باید مسلمان یې په یادولو او په سمه توګه ادا کولو باندې ټینګار وکړي، او په دې لوست کې به مونږ د اودس په معنا، د هغه واجبونکي شیان، د هغه ماتوونکي شیان، او سمه طریقه وپېژنو.

## د اودس معنا:

**اودس:** په ځانګړې طریقې سره د مخ، لاسونو، او پښو مینځل، او د سر مسح کول دي.

## د اودس واجبات:

د اوداسه واجبوونکي هغه کارونه دي چې اودس ورته شرط دی، او کله چې بې اودسه شي دا شیان پرې حرامېږي، او هغه دادي:

بې اودسي: په انسان کې یو معنوي صفت دی چې انسان د لمانځه نه منعه کوي مخکې لدې نه چې ځان پاک کړي او دا د پلیتۍ په څیر محسوس څیز نه دی، او دا - بې اودسي - په دوه ډوله دي، یو یې هغه ده چې مسلمان باندې لازم دی چې د هغه د لرې کولو لپاره اودس وکړي، او بل یې پرته له غسل څخه نه لرې کېږي.



١ لمونځ



٢ د کعبې شریفې طواف



٣ د قرآن کریم لمس کول

## څرنګه اودس وکړو؟

**مسلمان چې د اودس کولو اراده وکړي باید لاندې کارونه وکړي:**



١

په زړه کې دې د اوداسه نیت وکړي، او ودې وایي: «بسم الله».



٢

دواړه لاسونه دې په اوبو پرمینځي، شروع دې د ښي لاس څخه وکړي.



٣

خولې ته په اوبو اچولو سره دې هغه پاکه کړي، بیا دې اوبه په خوله کې وخوځوي، بیا دې یې بېرته راوغورځوي، او دې ته مضمضه وایي.



٤

پوزه دې په اوبو اچولو سره پاکه کړي داسې چې اوبه پورته کش کړي، بیا دې بېرته د هوا سره راوباسي.



٥

ټول مخ دې ووینځي، او مخ په اوږدوالي سره د تندي د وېښتانو د راختلو له ځای نه تر د زني د لاندې برخې پورې دی، او د ږیرې سره که چېرته ئې وي، او په پلنوالي سره د یو غوږ نه تر بل غوږ پورې.



٦

لاسونه دې د ګوتو له سرونو نه څخه تر څنګلو پورې ومینځي، شروع دې د ښي لاس څخه وکړي.



٧

خپل لاسونه دې په اوبو سره لامده کړي، بیا دې پرې په خپل سر مسح وکړي، د مخې طرف نه دې شروع وکړي شاته دې یې بوځي، بیا دې یې بېرته مخې ته راولي.



٨

د شهادت ګوتې دې په خپلو غوږونو کې دننه کړي، او د غوږونو شا دې په خپلو غټو ګوتو سره مسحه کړي.



٩

خپلې پښې دې د پرکو (ښنګرو) سره ومینځي، او دا هغه دوه هډوکي دي کوم چې د پښې په مفصل کې نېغ راوتلي، او په ښي پښې دې شروع وکړي.

## د اوداسه د اندامونو د مینځلو شمېر:

په اوداسه کې سنت طریقه دا ده چې هر یو اندام دې درې ځلې ومېنځي مګر د سر او غوږونو مسحه کول یو ځل دي، او د هر اندام یو ځل مېنځل هم روا دي په دې شرط چې پوره یې ومېنځي..

## د اوداسه ماتوونکي شیان:

اودس د څلورو شیانو نه په یو سره ماتېږي:

- د دوو لارو څخه د څه شي وتل، لکه: باد، تشې متیازې، یا ډکې متیازې، یا مني او یا هغه لوندوالی چې د شهوت د وجې نه راووځي.
- د خوب یا نشې په وجه د عقل تلل.
- بغیر د پردې څخه د اندام مخصوصه لمس کول.
- د اوښ غوښه خوړل.

### اضافي مطالعه

د اودس کولو څرنګوالي په اړه دا فلم وګورئ چې د اصول مرکز لخوا چمتو شوی دی.

د ویډیو کتلو لپاره دا بارکوډ سکین کړئ

### بحث وکړه

د اودس زده کولو او په سمه توګه د پلي کولو لپاره ځیني وسېلې وشمېره؟

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

## زه کوم وخت باید دویم ځلي اودس وکړم؟

کله چې مسلمان اودس وکړي نو اصل دا دی چې د هغه اودس پاتي کېږي تر څو هغه څه ونه کړي چې د هغه په وجه اودس کول پرې واجبېږي، کوم چې مخکې تېر شو..

### تمرین

د راتلونکو عبارتونو څخه یو عبارت په مناسب خالي ځای کې د تړاو له مخې کېږدئ:

- د قرآن شریف لمس کول
- د تشو متیازو وتل
- لمونځ
- خوب
- په شهوت سره د اندام مخصوصه لمس کول
- د کعبې نه طواف
- د اوښ غوښه خوړل

د هغه لپاره د اودس کول شرط دی:

اودس ماتوونکي شیان:

## په جورابو باندې مسحه کول:

کله چې اودس کوونکی جورابې دواړو پښو ته اغوستی وي، نو هغه لره جایز دی چې د پښو په ښکاره برخه په خپلو لمدو لاسونو سره مسحه کړي، او د پښو مینځلو لپاره د هغې وېستلو ته ضرورت نشته، او د دې لپاره درې شرطونه دي:

**لومړی**
باید جورابې یې په اودسه باندې اغوستې وي.

**دویم**
جورابې باید پښه د پړکو سره پټه کړي.

**دریم**
د مسح کولو موده باید د اوسېدونکي (مقیم) لپاره د (۲۴ ساعتونو)، او د مسافر لپاره د (۷۲ ساعتونو) څخه زیاته نه وي.



په جورابو باندې د مسحې وخت د اولې مسحې نه شروع کیږي.

## د ارزونې پوښتنې

**۱** د اوداسه راتلونکي کارونه ترتیب کړئ پیل یې له اول نه وکړه:

أ) د سر مسح. ◯ ..................
ب) خولې ته اوبه اچول. ◯ ..................
ج) د مخ مینځل. ◯ ..................
د) د غوږونو مسح کول. ◯ ..................
هـ) د پښو مینځل. ◯ ..................
و) د لاسونو مینځل. ◯ ..................

**۲** د راتلونکو عبادتونو څخه هغه په نخښه کړئ چې اودس کول ورته شرط دی:

◯ أ) لمونځ.
◯ ب) روژه.
◯ ج) د قرآن کریم لمس کول.
◯ د) اذان.
◯ هـ) طواف.

**۳** سم ځواب په نخښه کړئ:

په لنډه توګه د اودس د ماتوونکو شیان وشمیرئ:

◯ أ) ۲
◯ ب) ۳
◯ ج) ٤



## څلورم لوست

# غسل

**پیلیزه**

ځینې داسې حالتونه شته چې یوازې اودس پکې بسنه نه کوي، بلکې غسل پکې هم لازمېږي، پدې لوست کې به مونږ د غسل معنا، د لازمېدو اسباب او طریقه وپېژنو.

### د غسل معنا:

**غسل: له لویې پلیتۍ څخه د پاکوالي په نیت په اوبو سره د ټول بدن وینځل دي.**

### څرنګه غسل وکړو؟

په غسل کې د ټول بدن وینځل په اوبو سره او خولې او پوزې ته اوبه اچول اړین دي، نو کله چې یو مسلمان دا کار وکړ، هغه د لویې پلیتۍ نه پاک شو.

**لویه پلیتي:** دې ته وایي چې د هغې د لرې کولو لپاره غسل کول اړین دي او یوازې اودس بسنه نه کوي او دا څو ډولونه لري:

۱. جنابت: د سړي او ښځې هغه حالت دی چې کله دواړه جماع (کوروالی) وکړي، او یا که د چا نه په شهوت سره مني ووځي که څه هم له کوروالي پرته وي.

۲. حیض: هغه میاشتنۍ وینه ده چې له ښځې نه ځي.

۳. نفاس: هغه وینه ده چې د ماشوم له زیږیدلو نه وروسته د ښځې د رحم (بچه دانې) څخه وځي.

## د پوره غسل طریقه:

**کله چې یو مسلمان د پوره غسل اراده وکړي، نو هغه باید لاندې کارونه وکړي:**

۱ په خپل زړه کې د غسل نیت وکړي او خپل مخصوصه اندام دې په اوبه سره ومينځي.

۲ اودس دې وکړي لکه څرنګه چې د لمانځه لپاره اودس کوي.

۳ ټول بدن دې په اوبو سره ومينځي.

## غسل کله واجبيږي؟

په درې حالتونو کې په مسلمان غسل واجبيږي:

**لومړی**
په شهوت سره د مني وتل، برابره خبره ده که په خوب کې وي که په ويښه وي.

**دويم**
اجماع (کوروالی)، برابره خبره ده که انزال وشي او که ونه شي.

**دريم**
د ښځې څخه د حيض يا نفاس وينه وتل، نو کله چې وينه ودريږي لامبل ورباندې لازميږي.

**بحث وکړه**



**د لويې بې اودسۍ د پورته کولو لپاره د غسل کولو لارښوونه څه ته اشاره کوي؟**

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

..............................................................................

## هغه کارونه چې جنب کس لره يې کول حرام دي:

**هغه کس چې د جماع او يا د مني د خارجېدو له امله پرې غسل واجب شوی وي دې حالت ته (جنابت) ويل کېږي**، او دغه کس ته (جنب) ويل کېږي، او په دې حالت کې په دې باندې دا څيزونه حرام دي:



❶ لمونځ



❷ د کعبې شريفې طواف



❸ د قرآن کريم لمس کول او يا رااخېستل



❹ په جومات کې پاتې کېدل



❺ قرآن کريم تلاوت کول

## تيمم:

که يو څوک اودس او يا غسل کول غواړي او د اوبو د نشتوالي له وجې د دې نه عاجز شي، يا د ناروغۍ او يا بل څه له امله د اوبو د استعمال توان نه لري، نو هغه لره د دې دواړو په بدل کې تيمم روا دی. د تيمم طريقه: په زړه سره دې د تيمم نيت وکړي او په يو وار دې په خپلو لاسونو خاوره ووهي، بيا دې په هغې خاوره چې په لاسونو کې يې پاتې دي مخ مسحه کړي، بيا دې پرې خپل لاسونه مسحه کړي.



## که چېرته د تيمم کولو وروسته اوبه وموممه څه بايد وکړم؟

کله چې يو مسلمان اوبه ومومي او يا د اوبو د استعمالولو توان ولري اودس يې ماتېږي او اودس يا غسل ورباندې لازمېږي.

١

بايد ټول بدن ته اوبه ورسېږي تر څو غسل سم او جنابت لرې شي.

◯ سم ◯ ناسم

په خوب کې د منې وتلو له امله غسل نه لازمېږي، او په وينښه د وتلو په وخت کې غسل لازمېږي.

◯ سم ◯ ناسم

جنب انسان لره جواز نلري چې په جومات کې کېښني.

◯ سم ◯ ناسم

٢

مسلمان لره په لاندې حالت کې تيمم کول روا دی:

◯ أ) كله چې د اوبو د استعمالولو توان ونه لري.

◯ ب) د اوبو د نشتوالي په وخت کې.

◯ ج) ټول سم دي.




پنځم لوست

# ځیني هغه حکمونه دي چې مسلمانې ښځې لپاره ځانګړي دي

## پیلیزه

الله تعالی ښځه په ځینې ځانګړتیاوو او صفاتو سره ځانګړې کړې ده چې په هغې سره یې د سړیو نه توپیر کېږي، لکه څنګه هغې باندې د سړیو نه پرته ځینې عبادتونه واجب کړي، او په دې لوست کې به مونږ ځینې هغه مسألې وپېژنو چې هغه د مسلمانې ښځې ځانګړتیاوې دي.

## په اسلام کې د ښځې مرتبه او مقام:

**د هغو مسلو د مثالونو بیان چې په اسلام کې د ښځې د مرتبې سره تړاو لري.**

- اسلام ښځې ته په میراث کې د هغې حق په انصاف او سخاوتمندانه تقسیم سره ورکړی، په ځېنو ځایونو کې ښځه د سړي سره برابره وي، او په ځېنې ځایونو کې یې برخه توپیر لري، د هغې د خپلولۍ او د هغې خرڅې له وجې چې هغې ته سپارل شوې وي.
- په ډېرو چارو کې یې د سړي او ښځې ترمنځ برابروالی راوستی لکه تولې مالي راکړې ورکړې.
- ښځې ته یې د خاوند د اختیارولو ازادي ورکړې.
- د هغې نوم او خپل پلار ته د نسبت شرف یې ورته پرېښودلی، د هغې نسب له واده وروسته نه بدلیږي، بلکې خپل پلار او کورنۍ ته منسوب پاتې کیږي.
- پر سړي واجب ده چې د هغې پالنه وکړي او په هغې باندې بې له احسانه لګښت وکړي که چیرته هغه له هغو کسانو څخه وي چې مصرف کول پرې واجب وي لکه ښځه، مور او لور.
- د هغې ضعیفې ښځې په خدمت یې ټینګار کړی چې څوک نه لري، که څه هم خپلوان یې نه وي، او د هغې په خدمت کې یې ترغیب ورکړی او دا یې د الله تعالی په نیز د غوره عملونو څخه ګرځولی.

اضافي مطالعه

دا ویډیویي ماده وګورئ چې په اسلام او ځینو نورو دینونو کې د ښځو مقام سره پرتله کوي.

د ویډیو کتلو لپاره بارکوډ سکین کړئ

## د ښځې تړاو له نارينه سره:

### د نارينه سره د ښځې اړيکه په درې برخو وېشل شوې:

| دا چې ښځه يې کور ودانه (مېرمنه) وي | دا چې د هغه له محارمو ښځه وي | دا چې ښځه د هغه لپاره غير محرم (پردۍ) وي |
|---|---|---|
| د دوی لپاره د هغه څه ليدل او خوند اخيستل جايز دي چې د نورو لپاره نه دي جايز، او الله تعالی خاوند د ښځې لپاره جامه ياده کړې او ښځه يې د خاوند لپاره جامه ياده کړې، د دوی ترمنځ د نفسي، عاطفي او بدني اړيکو په زړه پورې انځور. | له محرم ښځه مراد ټول هغه ښوک دي چې په سړي باندې د تل لپاره له هغې سره واده کول حرام وي، لکه: مور، خور، خورزه، ورېره، عمه، خاله او خواښې، دا ټولې چې دي دوی لره روا دي د خپلو محارمو په مخ کې په خپل ښايست سره راښکاره شي کوم چې لاسونه، غاړه، وېښتان او نور دي بغير له تجاوز او زياتی ښځه | پردۍ ښځه هره هغه ښځه ده چې د هغه محرمه نه وي، که هغه يې د خپلوانو ښځه وي لکه د تره لور، د ترور لور، د ورور ښځه او د کورنی ښځې، او يا د هغه خپلوان نه وي، او له هغې سره کورنی اړيکه نه لري، او اسلام د دواړو جنسونو تر منځ د معاملې لپاره اصول وضع کړې دي لکه د حجاب فرضيت او له - نامحرم سره - نه ګوښه کېدل. |

## د مسلمانې ښځې حجاب او پرده:

الله تعالی په ښځه باندې پرده فرض کړې ده، نه په سړي باندې، ځکه چې په هغې کې د ښکلا او جاذبې عوامل موجود دي، چې دا د نارينه لپاره د فتنې سبب دی د دې په پرتله چې سړی د ښځې لپاره د فتنې سبب شي، او د دې پردې حدود دا دي چې خپل ټول بدن به د پردې سړي ښځه پټوي، او کولی شي چې هر قسم او په هر رنګ کې جامې واغوندي د څلورو شرطونو په پام کې نيولو سره:

| لومړی | دويم | درېيم | څلورم |
|---|---|---|---|
| بايد چې دا پرده ټولو هغو ځايونو لره پټونکې وي چې د هغو اندامونو پټول واجب دي. | بايد چې پراخه وي او داسې تنګ نه وي چې د بدن اندامونه پکې پېژندل کېږي. | بايد دومره نری نه وي چې د هغې لاندې د بدن اندامونه ښکاريږي. | چې دا په خپل ذات کې ښاېسته نه وي. |

## له ښځې څخه د وتونکې وینې ډولونه:

**له ښځې څخه دوه ډوله وینه راوځي**

| د حیض وینه | د نفاس وینه |
|---|---|
| او دا طبیعي وینه ده چې د ښځې د بچه دانۍ څخه غالبا هره میاشت راوځي، او څو ورځې دوام کوي، او دې ته (میاشتنۍ مریضي) وایي. | دا یوه طبیعي وینه ده چې د زنانه د بچه دانۍ څخه د ماشوم د پیداکېدو نه وروسته راوځي، او څو ورځې دوام کوي چې کله ۴۰ ورځو ته هم رسېږي. |

## د حیض او نفاس حکمونه:

**الله تعالی د حایضې او نفاسې ښځو لپاره ځینې حکمونه روا کړي، ځینې یې دادي:**

- لدې دواړو څخه د لمانځه ساقطېدل، نو د حیض او نفاس پر مهال پرې لمونځ نشته او د دې بېماریو څخه وروسته پرې د دې لمونځونو قضایي هم نشته.
- د روژې پرېښودل، نو دې دواړو ته د حیض او نفاس په وخت کې روژه نیول جایز نه دي، لیکن کومې روژې چې یې خوړلې د هغوی قضایي به راوړي.
- د جماع (کوروالي) حراموالی: نو خاوند لره نه دي جایز چې د خپلې حایضې او یا نفاسې ښځې سره کوروالی وکړي تر څو چې د حیض او نفاس نه وروسته ونه لامبي، او د جماع نه پرته نورې لوبې ورسره کولی شي.
- د وینې د ودرېدلو نه وروسته غسل کول: نو کله چې د حیض او نفاس وینه ودرېږي په دې دواړو باندې لازم دي چې غسل وکړي لکه وړاندې چې تیر شو.

**اضافي مطالعه**

د اسلام له نظره د ښځو د درناوي په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره دا کتاب ولولئ (المرأة في ظل الإسلام)، کوم چې په اصول ستهور کې په مختلفو ژبو شتون لري.

د کتاب ډاونلوډ کولو لپاره بارکوډ سکین کړئ.

**بحث وکړه**

د ښځو په اړه د ځینو شرعي حکمونو له پرېښودو څخه ځینې حکمتونه راوباسئ؟

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

## ۱

اسلام په سرې باندې د ښځې پاملرنه او په هغې باندې لګښت کول پرته له احسانه واجب کړي.

◯ سم ◯ ناسم

په حجاب کې دا فرض نه ده چې دا دې پراخه وي.

◯ سم ◯ ناسم

کله چې حایضه ښځه پاکه شي نو په هغې باندې واجب ده چې مخکې د لمونځ کولو څخه غسل وکړي.

◯ سم ◯ ناسم

حیض یوه طبیعي وینه ده چې د ښځې له بچه داني څخه د ولادت نه وروسته راوځي.

◯ سم ◯ ناسم

## ۲

په ښځې باندې فرض دی چې خپل ټول بدن د لاندې خلکو څخه ستر وکړي:

◯ أ) نورې ښځې.
◯ ب) پردي سړي.
◯ ج) خسر.

په حایضه او نفاسي ښځې لازم دی کله چې پاکه شي چې قضایي راوړي د:

◯ أ) لمونځ.
◯ ب) روژې.
◯ ج) ټول سم دي.



## شپږم لوست

# لمونځ

### پیلیزه

لمونځ په دین کې تر ټولو ستر عبادت دی چې یو مسلمان یې باید زده کړي او اداء کړي، او رسول الله -صلی الله علیه وسلم- مونږ ته د هغه د ادا کولو څرنګوالی رانبودلی په هغې طریقه چې الله تعالی پرې راضي کېږي.
او په دې لوست کې به مونږ فرضي لمونځونه، مرتبه یې، شرطونه یې، او په سمه توګه د ادا کولو څرنګوالی یې زده کړو.

## لمونځ څه شی دی؟

**لمونځ:** ورځني عبادت دی، چې د وینا ګانو او عملونو یوه شامله ټولګه ده چې د هغه په واسطه مسلمان خپل رب ته نږدې کېږي، او په ورځ او شپه کې پنځه ځله ترسره کېږي.

**او لمونځ د اسلام له رکنونو څخه دویم رکن دی.**

## د لمانځه مرتبه:

**لمونځ د یو شمیر ځانګړتیاوو په وجه ځانګړی شوی، له هغې جملې څخه:**

- د شهادتینو نه وروسته د اسلام دویم رکن دی.
- دا یو داسې عبادت دی چې په هر حال یې ادا کول فرض دي، د روغتیا او ناروغتیا، د امن او وېرې په حال کې.
- دا یو داسې عبادت دی چې مسلمان پرې د کافر څخه بیلېږي.

## مونږ ولې لمونځ کوو؟

مونږ ځکه لمونځ کوو چې دا یو داسې عبادت دی چې الله تعا ... انانو فرض کړی.



### د لمانځه د حکمتونو او فایدو څخه:

| | |
|---|---|
| د مسلمان او د هغه د رب ترمنځ اړیکه ده. | نفس د دنیا له غمونو څخه اراموي. |
| د مسلمان اراده او قصد پیاوړی کوي. | اخلاق برابروي، او لمونځ کوونکی د منکراتو څخه لرې کوي. |

## د لمانځه شرطونه:

**د لمانځه د ادا کولو لپاره یو شمیر شرطونه دي، او هغه دا دي:**

- پاکوالی: چې دا د بدن او ځای پاکوالي ته شامل دی، او د بې اودسی نه په اوداسه او غسل سره پاکوالی.
- د عورت پټول: او عورت: هغه ته وایي چې د خلکو په مخ کې یې پټول واجب وي، او د سړي هغه عورت چې په لمانځه کې یې پټول واجب دي د نامه نه تر زنګون پورې دی، او د زنانه هغه عورت چې په لمانځه کې یې پټول واجب دی ټول بدن دی پرته له مخ او لاسونو څخه.
- قبلې ته مخ کول: او هغه د کعبې شریفې طرف دی کومه چې په مکه مکرمه کې ده، نو په لمونځ کوونکي واجب دی چې په لمانځه کې د هغې طرف ته مخ وګرځوي.
- د لمانځه وخت داخلیدل: نو د وخت نه مخکې لمونځ نه صحیح کیږي، او نه یې د خپل وخت نه وروسته کول جایز دي، او غوره دا ده چې په اول وخت کې وکړل شي.



**اضافي مطالعه**

**د لمانځه د څرنګوالي په اړه دا فلم وګورئ چې د اصول مرکز لخوا چمتو شوی دی.**

**د ویډیو کتلو لپاره دا بارکوډ سکین کړئ**

## پنځه لمونځونه:

الله تعالی په خپلو بنده ګانو باندې په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه فرض کړي، او هغه دا دي:

| لمونځ | اول وخت یې | آخر وخت یې | رکعتونه یې |
|---|---|---|---|
| **د سهار لمونځ** | د سهار راختل دي | د لمر راختل دي | دوه دي |
| **د ماپښین لمونځ** | د لمر زوال (او دا د ورځې په نیمایي کې د لویدیځ طرف ته د لمر کږیدل دي) | کله چې د هر یو شي سېورې د هغه د اوږدوالي سره برابر شي | څلور دي |
| **د مازیګر لمونځ** | کله چې د هر یو شي سیورې د هغه د واږدوالي سره برابر شي | د لمر پرېوتل دي | څلور دي |
| **د ماښام لمونځ** | د لمر پریوتل | په اسمان کې د سوروالی پټېدل | درې دي |
| **د ماخستن لمونځ** | په آسمان کې د سوروالي پټېدل | نیمه شپه ده | څلور دي |

## څرنګه لمونځ وکړو؟

**کله چې مسلمان د لمانځه کولو اراده وکړي باید لاندې ټکي په نظر کې ونیسي:**



١ په زړه کې د لمانځه نیت کوي.

٢ قبلې ته مخامخ ودرېږي، او خپل لاسونه د خپلو ولو او یا غوږونو سره برابر پورته کوي او : «الله أکبر» وایي



٣

خپل ښی لاس په چپ لاس دپاسه ږدي، بیا د لمانځه د شروع کېدو له دعاګانو څخه یوه دعا وایي، لکه: «سبحانك اللهم وبحمدِك، وتبارك اسمُك، وتعالی جَدُّك، ولا إله غیرُك». اې الله! پاکي او ستاینې یواځې تالره دي او نوم دې مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته. بیا وایي: «أعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم». زه الله ته پناه وړم له رټل شوي شیطان څخه، د الله په نامه پیل کوم چې لورونکی او مهربان دی. بیا فاتحه سورت لولي، بیا «آمین» وایي کله چې فاتحه ولولي، او د آمین معنا ده: یا الله زما دعا قبوله کړه. بیا له فاتحې نه وروسته د قرآن کریم له سورتونو څخه هغه لولي چې ورته آسانه وي، که څه هم یو آیت وي.

٤ خپل لاسونه د خپلو ولو او یا غوږونو سره برابر پورته کوي، او «الله أکبر» وایي، او خپله ملا رکوع ته ښکته کوي، او خپل لاسونه په زنګونو باندې ږدي، او خپله ملا او سر په یوه اندازه برابروي، او په رکوع کې «سبحان ربی العظیم» درې ځلې وایي.





٥ خپل سر پورته کوي تر څو بیرته ودریږي او لاسونه د خپلو ولو سره یو برابر پورته کوي، او وایي: «سمع الله لمن حمده». بیا په ولاړه باندې «ربنا ولک الحمد» وایي.

٦ بیا په ځمکه په سجده پریوځي، خپل تندی او پوزه په ځمکه ږدي، او خپل لاسونه، زنګونونه او د ګوتو سرونه هم په ځمکه ږدي، او درې ځلې «سبحان ربي الأعلى» وایي.





۷

سر پورته کوي او «الله أکبر» وايي او په چپه پښه کېني، او ښۍ پښه ودروي، او لاسونه په ورنونو ږدي او په ناسته «رب اغفر لي» وايي.



۸

د لومړۍ سجدې په څیر بیا ځل سجده کوي او سجدې ته د ښکته کېدلو په وخت کې «الله أکبر» وايي. او په لومړۍ سجده کې یې چې څه ویلي و هماغه به په دویمه سجده کې هم وايي.



۹

سر پورته کوي، دویم رکعت ته پاڅېږي او «الله أکبر» وايي. او دویم رکعت هم د لومړي رکعت په څیر ادا کوي.

**۱۰**



په دويم رکعت کې د دوهمې سجدې نه وروسته داسې کېني لکه د دوو سجدو په منځ کې چې څرنګه کېناستلی و، او وايي: «التحيات لله والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله»، ثنا، ستاينې او پاکې الله لره دی، اې نبي! پرتا دې سلام، د الله رحمت او برکتونه وي، پر مونږ او د الله پر نيکو بندګانو دې سلام وي، شاهدي ورکوم چې بې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی . او دې ته لومړی تشهد ويل کېږي. لدې نه ورسته بيا وايي: «اللهم صلِّ على محمد وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيمَ وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد، وبارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد» ياالله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پرکورنۍ رحمت ووروه، لکه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولی وو، بېشکه ته ستايل شوی او لوی يې. يا الله ! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه ووروه، لکه پر ابراهيم - عليه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولي وو، بېشکه ته ستايل شوی او لوی يې. او دې ته ابراهيمي درود ويل کيږي.

**۱۱**



ښي طرف ته به مخ واړوي او «السلام عليكم ورحمة الله وبركاته» به ووايي، بيا به چپ طرف ته مخ واړوي او همداسې به ووايي، او په دې سره د دې کس لمونځ ختمېږي.

**دا د دوه رکعتي لمانځه طريقه ده، لکه: د سهار او جمعې لمونځ، او که چېرته درې رکعتي لمونځ وو لکه: د ماښام، او يا څلور رکعتي لمونځ و لکه د ماپښين، مازيګر او ماخستن لمونځونه، نو دا به د لومړی تشهد د ختمېدو نه وروسته پاتې رکعتونه پوره کړي لکه د لومړي رکعت په څېر پرته له دې چې د فاتحې نه وروسته نور څه نه وايي، بيا به داسې کېني لکه د دويم رکعت نه ورسته چې کېناستلی و، او لومړی تشهد به ووايي، بيا به ابراهيمي درود ووايي، بيا به سلام وګرځوي.**

## د جمعې لمونځ:

- الله تعالی پر مسلمانانو د جمعې په ورځ یو خاص لمونځ فرض کړی چې هغه ته (د جمعې لمونځ) وايي، او د هغه ځانګړی صفت او ځانګړې شرطونه دي، او دا په دغه ورځ د ماپښین د لمانځه په ځای دی.
- د لمانځه لپاره مسلمانان په جومات کې راټولیږي او د جومات خطیب دوه خطبې وايي، بیا دوه رکعته لمونځ کوي، چې په دې دواړو رکعتونو کې په ښکاره (لوړ غږ) قرآن کریم لولي.
- د جمعې په لمانځه د ګډون لپاره غسل کول روا دي، او باید وختي جومات ته راشي، او پرته له عذر نه د هغې نه وروسته کېدل جایز نه دي او څوک چې ورته حاضر نه شو نو هغه دې د ماپښین څلور رکعته لمونځ وکړي، په لوړ غږ دې پکې قراءت نه کوي.
- په مسافر او ښځه باندې د جمعې لمونځ فرض نه دی.

**بحث وکړه**

**له خپلو ملګرو سره د مسلمان پر وړاندې ځینې هغه ننګونې وڅیړئ چې په خپل وخت د لمانځه د ادا کولو مخه یې نیسي، او څرنګه باید د دې ننګونو نه ووځي.**

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................



﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ﴾ اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وشي، نو تاسو د الله ذکر ته بیړه وکړئ او اخیستل خرڅول پرېږدئ، دا ستاسو لپاره ډېر غوره دی که تاسو پوهېږئ. (الجمعة: ۹).

# د ارزونې پوښتنې

**۱**

مسلمان کولی شي د وخت د داخلېدلو څخه مخکې فرض لمونځ وکړي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

د سهار د لمانځه وخت د لمر راختلو سره ختمېږي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

**۲**

د جمعې د ورځې دوه ځانګړې عبادتونه ذکر کړه.

..................................................

..................................................

د مسلمان په ورځنۍ ژوند باندې د پنځه وخته لمونځونو اثر څه دی؟

..................................................

..................................................

د دې ویب پاڼې په کتلو سره: islamicfiqh.net/en، په اسلام کې د لمانځه د پرېښودونکي د حکم په اړه خبرې وکړئ.

..................................................

..................................................

**۳**

هغه عورت چې په سړي باندې یې په لمانځه کې پټول واجب دي:

- ◯ أ) ټول بدن پرته له مخ، لاسونو او پښو څخه.
- ◯ ب) د نامه نه تر زنګون پورې.
- ◯ ج) د ولو نه تر زنګون پورې.

هغه لورى چې لمونځ کوونکی ورته باید مخ وګرځوي:

- ◯ أ) د شمال طرف.
- ◯ ب) د لویدیځ طرف.
- ◯ ج) د کعبې طرف.

لمونځ کوونکی په سجده کې دا دعا وایي:

- ◯ أ) سبحان ربي العظيم.
- ◯ ب) سبحان ربي الأعلى.
- ◯ ج) رب اغفر لي.



# اووم لوست

# زکات

## پیلیزه

له پخوانیو زمانو راهیسې په دې ځمکه کې انسانان په بېلابېلو کچو ژوند کوي، ځیني په دوی کې شتمن دي چې د ډېرو پیسو خاوندان دي، او لدوی ځیني هغه غریب دي چې خپله د خوراک ډوډۍ نه مومي، او دا په دې کائناتو کې د الله تعالی له طریقو څخه ده، او اسلام د شتمنو په مال کې (زکات) فرض کړی دی چې باید غریبو ته ورکړ شي تر څو ورسره مرسته وشي او هغوی د غربت له درده خلاص کړي، او دې ته یې هڅولي دي چې مسلمان د خپل ضرورت څخه زیاتې پیسې ولګوي، او د دې بدله یې ډېر اجرونه ګرځولي چې مسلمان یې په ژوند او د مرګ نه وروسته حاصلوي، همدا راز مسکینانو سره په هر وخت او هره حادثه کې په نېکۍ کولو باندې تشویقوي، همدارنګه ورو ته د ډوډۍ ورکولو او بربنډو ته د جامو وراغوستلو باندې تشویقوي، دا ټول د دې لپاره چې مسلمانه ټولنه سره یو ځای شي او داسې شي لکه څنګه چې الله تعالی غواړي. په دې لوست کې به موږ د زکات د احکامو په اړه، د هغه د څرنګوالي په اړه، او د هغو مالونو په هکله چې زکات پکې واجب دی معلومات ترلاسه کړو.

## زکات څه شی دی؟

**زکات:** د شتمنو مسلمانانو د مالونو څخه د مال یوه برخه ده چې غریبانو ته ورکول کېږي، او دا د اسلام له رکنونو څخه دریم رکن دی.

**اضافي مطالعه**

دا ویډیویي ماده وګورئ چې د زکات او په ټولنه کې د هغه د اثر په اړه غږېږي، او دا د اصول مرکز لخوا چمتو شوې ده.

د ویډیو لیدلو لپاره بارکوډ سکین کړئ.

## مونږ ولې زکات ورکوو؟

د الله د حکم د عملي کولو په خاطر مونږ زکات ورکوو.

## د زکات له حکمتونو او فايدو څخه:

**لومړی**

د بخل او له مال سره له مينې کولو څخه د نفس پاکول .

**دويم**

د مال ډير والی، ځکه چې زکات ورکول مال نه کموي بلکې زياتوي يې او برکت پکې اچوي.

**دريم**

له اړمنو، فقيرانو او نورو سره مرسته کول.

## هغه کوم مالونه دي چې زکات پکې واجب دي؟



سره زر او سپين زر



نقدي پيسې



کروندې او مېوې



چار پايان

بهيمة الأنعام: اوښان، غواګانې او پسونه.



سوداګريز توکي

سوداګريز توکي: هر هغه شي ته وايي چې د تجارت لپاره تيار شوي وي، لکه کور، دکان، موټر، چارپايان او يا داسې نور.

## په نقدو پیسو کې به څنګه زکات ورکوو؟

مسلمان خپلو نقدو پیسو کې په هجري کال کې یو ځل زکات ورکوي، او د زکات اندازه یې دوه نیم سلنه ده، او زکات غریبانو او اړمنو خلکو ته ورکول کیږي.

### تمرین

د راتلونکو عبارتونو څخه هر یو عبارت په مناسب خالي ځای کې د تړاو له مخې کېږدئ:

- د لاس ساعت
- سره زر او سپین زر
- د کور سامان آلات
- مالي مبلغ
- پسونه
- چرګه
- د مېوې بڼ (باغ)

په مسلمان باندې لازم دي چې زکات یې ورکړي:

زکات پکې نشته:

### بحث وکړه

که چېرته ټول مالداره خلک د خپلو مالونو زکاتونه ورکړي نو د دې اغیز به څه وي؟

..............................

..............................

..............................

## د ارزونې پوښتنې

**١** دا کلیپ وګورئ "ولې مسلمانان زکات ورکوي؟" او بیا د زکات د وجوب د لوړو معناوو په اړه وغږیږئ.



...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

...........................................................................

**٢** په مسلمان باندې واجب دي چې د خپلو نقدو پیسو زکات ورکړي:

- ◯ أ) په عمر کې یو ځل.
- ◯ ب) په کال کې یو ځل.
- ◯ ج) په میاشت کې یو ځل.

په نقدو پیسو کې د زکات اندازه:

- ◯ أ) ٢٥٪.
- ◯ ب) ١٠٪.
- ◯ ج) ٢,٥٪.



# اتم لوست

# روژه

## پیلیزه

روژه یو له هغو عبادتونو څخه ده چې الله تعالی پر ټولو امتونو فرض کړې ده، او په اسلام کې مسلمان دا فریضه د الله تعالی د تابعدارۍ له امله ترسره کوي، او په دې لوست کې به موږ د روژې په معنا، د هغې د فاسدوونکو شیانو او د هغې ځینې مهمې مسألې زده کړو.

## روژه څه شی دی؟

**روژه:** داسې یو عبادت دی چې مسلمان پکې د خوراک، څښاک او کوروالي څخه د سهار له راختلو نه تر لمر پرېوتلو پورې ځان ساتي.

او د رمضان د میاشتې روژه د اسلام د رکنونو څخه څلورم رکن دی.

## مونږ ولې روژه نیسو؟

**مسلمان د الله تعالی د تابعدارۍ او د هغه د حکم د منلو په خاطر روژه نیسي.**

## د روژې له حکمتونو او فایدو څخه:

- په زیات عبادت سره د تقوا په ډېر والي او د ګناهونو په کمووالي سره د تقوا عملي کول.
- تر څو د لوږې په درد پوه شي هغه چې غریبانو او اړمنو ته رسېږي.
- تر څو خپل ځان د نفس له شهوتونو څخه ازاد کړي، او د هغې په سمولو او قابو کولو ځان تمرین کړي.

**الله تعالی روژه پر مسلمانانو او د دوی نه مخکې په نورو امتونو فرض کړې ده، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴾ [اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ].** (البقرة: ۱۸۳).

## د روژې ماتوونکي شیان:

**په روژه لرونکي فرض دي چې له ځینو شیانو څخه ځان وساتي، او کله چې یې وکړل نو روژه یې ماتېږي، او هغه دا دي:**

١ خوراک او څښاک، او په دې کې هغه ستن (پېچکاري) هم داخله ده چې د رګ د لارې د خوراک لپاره لېږل کېږي.

٢ قصدا د مني انزالول، برابره خبره ده که په کوروالۍ سره وي او یا بغیر د کوروالۍ څخه، او د رمضان په ورځ کې کوروالي ډېره لویه ګناه ده.

٣ قصدا قی (استفراق) کول.

**او همدارنګه د ښځې روژه په دې څیزونو سره فاسدېږي:**

٤ د حیض او نفاس وینې راتول.

## د رمضان المبارک میاشت:

هغه د هجري قمري کال نهمه مبارکه میاشت ده، په دې -میاشت- کې الله تعالی پر خپل رسول محمد -صلی الله علیه وسلم- قرآن کریم نازل کړی. او الله تعالی یې د ورځې روژه او د شپې لمونځ د ګناهونو د بخښنې لامل ګرځولی دی. او الله جل جلاله هغه - میاشت- په داسې شپې سره ځانګړې کړې چې هغه د زرو میاشتو نه غوره ده، او هغې ته (د قدر شپه) ویل کیږي، څوک چې دا شپه په ذکر او لمانځه سره را ژوندۍ کړي د هغه مخکیني ګناهونه بخښل کیږي.



مسلمانان د رمضان په میاشت کې د تراویح لمونځ کوي، او دا د هغه سنتو څخه دي چې په دې میاشت پورې تړاو لري او د ماخستن د لمانځه څخه وروسته ادا کېږي.

## په رمضان کې چا لره بوزه کېدل روا دي؟

الله تعالی په رمضان کې د ځینو خلکو لپاره بوزه کېدل روا کړی او هغوی دا دي:

١ هغه ناروغ چې روژه نیول ورته تاوان رسوي.

٢ هغه بوډا چې روژه نشي نیولی.

٣ مسافر د سفر په دوران کې.

٤ حایضه او نفاسه ښځه.

٥ امیدواره او تی ورکوونکې ښځه کله چې په خپل ځان او یا په خپلو بچو باندې ویرېږي.

### د روژې په اړه ځنې خبرتیاوې:

- چا چې په رمضان کې د عذر له امله روژه ماته کړه، نو هغه به د هرې ورځې په بدل کې بله ورځ روژه نیسي.
- کله چې یو داسې ناروغ روژه ماته کړي چې د روغېدو تمه یې نه وي نو د هغه نه د رمضان روژه ساقطېږي، او د هرې ورځې په بدل کې به یو مسکین ته خواړه ورکوي.
- کله چې یو مسلمان بوډا وي او هیڅکله روژه نشي نیولی، نو د هغه نه هم د رمضان روژه ساقطېږي، او د هرې ورځ په بدل کې به یو مسکین ته خواړه ورکوي.



مسلمانان د ماښام د اذان سره روژه ماتی کوي، او ډیری مسلمانان کوښښ کوي چې خپلو نورو ورونو سره یو ځای د ماښام روژه ماتی وکړي.

# د ارزونې پوښتنې



١ د دې کليپ له کتلو وروسته: Why do Muslims fast Ramadan ولې مسلمانان د رمضان مياشت روژه نيسي؟ د هغه اغيزو په اړه وغږېږئ چې مسلمانان يې د روژې نيولو څخه ترلاسه کوي.

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

٢ الله تعالی د ځينې خلکو لپاره روژه خوړل روا کړي، ځينې يې بيان کړه او د دې د حکمت په اړه وغږېږه.

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

.........................................................................

٣ د روژې په دوران کې په مسلمان باندې لازم دی چې د دې شيانو څخه ځان وساتي:

- أ) خوراک او څښاک.
- ب) کوروالی.
- ج) ټول سم دي.

د روژې د ماتوونکو شيانو شمېر:

- أ) ٦.
- ب) ٥.
- ج) ٤.



## نهم لوست

# حج

### پیلیزه

حج د اسلام له رکنونو څخه یو رکن دی، او دا د هغه غوره عملونو څخه دی چې مسلمانان پرې الله تعالی ته ځان نږدې کوي، او د دې د فضیلت په اړه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه ډېر حدیثونه راغلي، په دې لوست کې به مونږ د دې ځانګړي عبادت په اړه لږ معلومات ترلاسه کړو.

### حج څه شی دی؟

**حج:** هغه عبادت دی چې د ذوالحجې په میاشت کې چې د هجري کال وروستی میاشت ده د ځانګړو عبادتونو د ترسره کولو لپاره توان لرونکي مسلمانان مکې مکرمې ته ځي.

**او حج د اسلام له رکنونو څخه پنځم رکن دی.**

هجري کال: په دې کې د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت کولو ته اشاره ده، او د مسلمانانو خلیفه عمر بن الخطاب رضي الله عنه د اسلامي تاریخ د پیل کېدو لپاره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هجرت کال غوره کړ، او هجري کال دولس میاشتې لري چې د محرم له میاشت سره پیلیږي او د ذو الحجې له میاشت سره ختمیږي، او مسلمانانو په هجري کال سره د واقعاتو او حقایقو تاریخ باندې تکیه کړېده.

## مونږ ولې حج کوو؟

**مسلمان مکې مکرمې ته د الله تعالی د بلنې په ځواب کې د حج ادا کولو لپاره قصد کوي.**

## د حج له حکمتونو او ګټو څخه:

- په هغو پېغمبرانو پسې اقتدا کول چې مسجد الحرام ته د حج په مقصد تللي وو.
- په عبادت باندې مشغولتیا، حاجي یو څو ورځې د الله تعالی د عبادت لپاره ځان فارغ کړی وي، چې د یو عبادت څخه بل عبادت ته اوړي.
- د هغو مسلمانانو سره یو ځای کېدل چې په مقدسو ځایونو کې سره راټول شوي دي، او د هغوی سره پېژندنه کول، او د هغوی سره اړیکې جوړول.

## بحث وکړه

**له خپلو هغو ملګرو سره بحث وکړه چې حج یې کړی وي، او د حج د ادا کولو پر مهال د هغوی له احساساتو خبر شئ.**

## حج پر چا باندې فرض دی؟

حج په عمر کې یو ځلې واجب دی په هغه چا باندې چې توان او طاقت یې ولري د مسلمانانو نارینه او ښځینه و ځخه، نو هر هغه څوک چې په بدني او مالي ډول د حج توان ولري په هغه باندې حج واجب دی.

### د حج په تړاو خبرتیاوې:

- مسلمان نشي کولی چې حج ادا کړي مګر هغه ځای کې چې هغه لره ځانګړی شوی دی چې هغه (مکه مکرمه ده)، او د کال په ځانګړي وخت کې.
- په حج کې څو عبادتونه دي چې مسلمان یې باید مخکې د حج له تګ څخه زده کړي.



هر کال د مختلفو ملکونو مسلمانان حج کوي، او د ټولو یو ډول کالي (جامې) وي نو د شتمن او غریب ترمنځ پکې هیڅ توپیر نه وي.

## د ارزوني پوښتني

۱



د دي کليپ په کتلو سره
?Why Do Muslims Perform Pilgrimage (Hajj):
مسلمانان ولې حج کوي؟ د حج عبادت د انساني فطرت سره د موافقت په لاړو چارو خبري وکړه.

..............................................................................................................
..............................................................................................................
..............................................................................................................
..............................................................................................................
..............................................................................................................
..............................................................................................................
..............................................................................................................

۲

مسلمانان د حج فريضه په کوم وخت کې ادا کوي:

- ◯ أ) د رمضان مياشت کې.
- ◯ ب) د ذو الحجې مياشت کې.
- ◯ ج) د ديسمبر مياشت کې.

حج په مسلمان باندې فرض دی:

- ◯ أ) يو ځل په عمر کې.
- ◯ ب) دوه ځلې په عمر کې.
- ◯ ج) هر کله يې چې د حج کولو وسه وشوه.

# شخصي ارزونه

| م | تعليمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزورى | ښه | عالي |
| ۱ | ايا د عبادت په معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۲ | ايا د عبادت شرطونه بيانولى شې؟ | | | | |
| ۳ | ايا د عبادتونو ډولونه بيانولى شې؟ | | | | |
| ٤ | ايا د طهارت په معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٥ | ايا د طهارت ډولونه پېژنې؟ | | | | |
| ٦ | ايا د اوداسه طريقه شرحه کولى شې؟ | | | | |
| ۷ | ايا د اوداسه ماتوونکي شيان پېژنې؟ | | | | |
| ۸ | ايا په جورابو باندې د مسحې کولو مسالو باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۹ | ايا د غسل طريقه باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۱۰ | ايا د غسل واجباتو باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۱۱ | ايا ته پوهېږې چې په جنب باندې د څه شي کول حرام دي؟ | | | | |
| ۱۲ | ايا د ښځې څخه د وتلو وينو ډولونه پېژنې؟ | | | | |
| ۱۳ | ايا د ښځو د وينو باره کې مهمې مسألې پېژنې؟ | | | | |
| ۱٤ | ايا د لمانځه معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۱٥ | ايا ته پوهېږې چې مونږ ولې لمونځ کوو؟ | | | | |
| ۱٦ | ايا د لمانځه شرطونه باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ۱۷ | ايا پنځه لمونځونه پېژنې؟ | | | | |
| ۱۸ | ايا د لمانځه په طريقه باندې پوهېږې؟ | | | | |

| م | تعليمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزوری | ښه | عالي |
| ١٩ | ایا د جمعې د لمانځه احکامو باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٢٠ | ایا د زکات په معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٢١ | ایا ته پوهېږې مونږ ولې زکات ورکوو؟ | | | | |
| ٢٢ | ایا هغه مالونه پېژنې چې زکات پکې واجبېږي؟ | | | | |
| ٢٣ | ایا د زکات شرطونه پېژنې؟ | | | | |
| ٢٤ | ایا د زکات مستحق کسان معلوموлای شې؟ | | | | |
| ٢٥ | ایا د روژې پر معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٢٦ | ایا ته پوهېږې چې مونږ ولې روژه نیسو؟ | | | | |
| ٢٧ | ایا د فرضي روژې په اړه پوهېدلی شې؟ | | | | |
| ٢٨ | ایا د روژې ماتوونکي شیان معلومولای شې؟ | | | | |
| ٢٩ | ایا ته معلومولای شې چې په رمضان کې چا ته روژه ماتول روا دي؟ | | | | |
| ٣٠ | ایا د حج معنا باندې پوهېږې؟ | | | | |
| ٣١ | ایا ته پوهېږې چې مونږ ولې حج کوو؟ | | | | |
| ٣٢ | ایا ته پوهېږې چې په چا باندې حج فرض دی؟ | | | | |
| ٣٣ | ایا په سمه توګه اودس کولی شې؟ | | | | |
| ٣٤ | ایا په سمه توګه غسل کولی شې؟ | | | | |
| ٣٥ | ایا په سمه توګه لمونځ ادا کولی شې؟ | | | | |
| ٣٦ | ایا د اسلام دین سهولت او اسانتیا احساس کوې؟ | | | | |



څلورم فصل

# اسلامي حکمونه







## د فصل لوستونه:

١. جامې (کالي)
٢. خوراک او څښاک
٣. مالي راکړې ورکړې
٤. اخلاق (ښایسته خویونه)







## لومړی لوست

# جامې (کالي)

**پیلیزه**

هغه جامې چې انسان يې اغوندي د الله تعالی له طرفه يو نعمت دی، لکه څرنگه چې الله تعالی فرمايلي: ﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ﴾ [اې د ادم اولاده! يقينا مونږ پر تاسو باندې لباس نازل کړی دی چې ستاسو د شرم ځایونه پټوي او د زينت جامې (مو نازلې کړې) او د پرهېزگارۍ لباس، دغه ډېر غوره دی، دا د الله تعالی له آيتونو څخه دي، د دې لپاره چې دوی نصيحت حاصل کړي] (الأعراف: ٢٦). او په دې درس کې به مونږ د جامو متعلق ځينې مسئلې وپېژنو.

## اصل په جامو کې:

اصل په جامو کې جواز دی، **نو په دې کې هيڅ شی حرام نه دي مگر دا چې په قرآن کريم او نبوي سنتو کې يې حراموالی بيان شوی وي.**

او اصل په معاملاتو کې چې په هغې کې جامې هم راځي جواز دی، نو هیڅ شی نه حرامېږي مگر په دلیل سره، او دلته چې د حرامو جامو کوم ډولونه بیان شوي د دې ټولو حرمت یا په قرآن کریم او یا په نبوي سنتو کې راغلی.

**بحث وکړه**

د جامو له لارې کومې اړتياوې پوره کېږي؟

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

## حرامې جامې:

**الله تعالی د جامو ځینې ډولونه حرامې کړې، چې د هغې نه دا دي:**

- هغه چې عورت ښکاره کوي او نه يې پټوي.
- او هغه چې په هغې کې د بل جنس سره مشابهت وي، لکه د سړيو جامې چې د زنانو د جامو په څير وي، او يا د ښځو جامې د سړيو د جامو په څير وي.
- او هغه چې د تکبر او لويې څرګندونه وکړي.
- او هغه چې په هغې کې اسراف او زياتي وي.
- او پر سړيو باندې د ورېښمو جامې اغوستل حرام دي، او همدارنګه په سرو او سپينو زرو ځان سينګارول هغو لره حرام دي.
- او د هر هغه څه اغوستل چې د کفارو له جامو سره مشابهت کوي، لکه د هغوی د امامانو او راهبانو جامې، د مثال په توګه.

د سړي د عورت حد د نوم څخه تر زنګون پورې دی، مګر ښځه د پردو سړيو پر وړاندې ټوله عورت ده، او د هغې د خپلوانو (محارمو) لکه پلار او زوی او ورور نو د هغوی پر وړاندې به هغه څه ښکاره کوي کوم چې د نورو زنانه و پر وړاندې ښکاره کوي لکه مخ، وېښتان، غاړی، مړوندونه، او پنډۍ.



له خپلو ملګرو سره يې شريک کړه تر څو د جامو د ډولونو د منع کولو ځيني لاملونه وپیژنئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له نارينه وو سره د ښځو او د ښځو له نارينه وو سره له مشابهت څخه منع کړې دی، او په دې ممانعت کې د لباس ډول او د خبرو طريقه هم شامله ده، او دغه مشابهت د هغو لويو ګناهونو څخه شمېرل شوی چې کوونکي يې د الله تعالی د عذاب مستحق ګرځي کله چې توبه ونه کړي، او اسلام غواړي چې د سړي طبيعت او ظاهري بڼه د ښځې له طبيعت څخه بېله وي، او همدارنګه ښځې هم داسې غواړي، نو دا د سالم فطرت او سم منطق ثبوت دی.

## تمرين

هغه جامې مشخصې کړئ چې يوازې د نارينه وو لپاره حرامې دي، او هغه چې د نارينه او ښځينه دواړو لپاره حرامې دي:





- هغه چې د دوو جنسونو ترمنځ پکې مشابهت وي.
- هغه چې عورت ښکاره کوي او نه يې پټوي.
- هغه چې اسراف او زياتی پکې وي.
- هغه چې د تکبر او لويی څرګندونه کوي.
- کافرانو د جامو سره مشابهت.
- د وربښمو او سرو زور اغوستل.

## بحث وکړه

ايا د فيشن والو اوازونه، دودونه، رواجونه، يا د هغوی قوانين هغه اصل کيدی شي چې د نارينه يا ښځينه لپاره مناسبې جامې وټاکلی شي؟

.......................................................................

.......................................................................

.......................................................................

.......................................................................

.......................................................................

١ د حرامو جامو په اړه فکر وکړئ، بیا د هغو حکمتونو په اړه فکر وکړئ چې د هغو په وجه يې حراموالی اړین دی.

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

........................................................................

٢ سم ځواب په نښه کړئ:

■ د سروزرو اغوستل حرام دي پر:

- أ) سړو باندې.
- ب) ښځو باندې.
- ج) ماشومانو باندې.

■ په سړو باندې حرام دي:

- أ) د وړې اغوستل.
- ب) د وريښمو اغوستل.
- ج) ټول سم دي.



دویم لوست

# خوراک او څښاک

## پیلیزه

مسلمان خوراک او څښاک ته د الله تعالی د نعمتونو په نظر ګوري هغه چې شکر یې باید وویستل شي، او د دې د شکر څخه دا دی چې په دې باندې د عبادت کولو لپاره ځان قوي کړي، او په دې لوست کې به د خوراک او څښاک د احکامو او آدابو په اړه زده کړه وکړو او د هغو حرامو خوراکونو په اړه به هم زده کړو چې یو مسلمان باید ترې ډډه وکړي.

## اصل په خوراک او څښاک کې:

په دې کې هېڅ نه دي حرام مګر هغه چې په قرآن کریم یا په نبوي سنتو کې یې حرمت راغلی وي، الله تعالی فرمایلي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا﴾ اې خلکو! له هغو شیانو نه چې په ځمکه کې دي، حلال پاک خورئ. (البقرة: ١٨٦).

## حرام خوراک او څښاک:

**الله تعالی یو ډول خواړه او څښاکونه حرام کړي چې ځیني یې دادي:**

- شراب، او دا عقل له منځه وړي، او د عقل ساتنه د اسلامي شریعت د هدفونو څخه یو هدف دی.
- نشه یې توکي: ځکه چې هغه عقل او جسد دواړه له منځه وړي.
- هغه حیوانات چې پرته له حلالولو څخه مړه شوي وي، او یا پرې د حلالولو په وخت کې د الله تعالی نوم نه وي یاد شوی.
- د خنزیر غوښه: نو دا یوه داسې نجسه غوښه ده چې خوړل یې ناروا دی.
- ښکاري حیوانات، لکه زمریان، پړانګان، بازان او عقابان.
- هغه چې باطلو معبودانو ته د نږدېکت لپاره حلال شوي وي؛ لکه بوتان.

مقاصد الشریعة (د شریعت هدفونه): دا د اسلامي علمونو څخه یو علم دی، چې د دې په وجه اسلامي حکمونه او د شریعت رازونه معلومیږي، لکه: الله تعالی ولې دا حکمونه روا کړي؟ او دا حکم د څه هدف لپاره دی؟

## د شرعي حلالي شرطونه کومې دي؟

**شرعي حلاله هغه حلالول او یا قرباني ده چې لاندې شرطونه پکې وي:**

١ ذبحه کوونکی به مسلمان یا یهودي او یا نصراني وي چې فرق کولی شي او د قربانی اراده ولري.

٢ چې د غوښولو آله حلالولو ته برابره وي او وینه تویوي او په تیره والي باندې غوښول کوي لکه چاقو، او د هر هغه شي استعمالول حرام دي چې حیوان په دروندوالي او د حیوان په سر د ټکر کولو سره، او یا د برقي شارټ په څیر سوځولو سره وژني.

٣ چې د الله تعالی نوم یاد کړي نو داسې ووایي: (بسم الله) کله چې خپل لاس د حلالولو لپاره خوځوي.

٤ د هغه څه پرې کول چې په حلاله کې يې پرې کول واجب دی، او هغه لکه: مرۍ او ستوني او (ودجان) دي چې دا په څټ کې دوه غټ رګونه دي، او یا په دې څلورو شیانو کې درې شیان پرې کړي.

## د سمندري حیواناتو خوړل څه حکم لري؟

هغه بحري حیوانات چې صرف په اوبو کې ژوند کوي د هغو د مړو شوو خوړل روا دي، لکه ماهیان او ربیان (یو قسم سمندري حیوانات دي) او نور، برابره خبره ده که په سمندرونو یا نهرونو او یا وړو نهرونو کې ژوند کوي.



د صحرايي نه ماتوونکو (نه داړونکو) حیواناتو ښکار او خوړل روا دي، په دې شرط چې د ښکار کولو په وخت کې يې بسم الله ووايي، او که چېرته يې ژوندی راګیره کړه نو حلاله دې کړي.

## په رستورانتونو او دوکانونو کې د حلالولو حکمونه:

۱ هغه چې د مسلمانانو او اهل کتابو (یهودو او نصرانیانو) نه پرته نور چا حلال کړې وي، لکه بوذیانو، هندوانو او ملحدینو نو دا حرام دي، او په دې کې هغه څه هم راځي کوم چې د هغو هیوادونو په رستورانتونو کې موندل کېږي چې اکثره خلک یې مسلمانان او اهل کتاب نه وي.

۲ هغه چې مسلمان او اهل کتابو په شرعي طریقې سره حلال کړې وي نو دا د قرآن کریم په نص باندې روا دي.

۳ هغه چې مسلمان او یا اهل کتابو په غیر شرعي طریقې سره وژلې وي لکه شارټ ورکول او په غرقولو سره نو دا حرام دي.

٤ د اهل کتابو ذبحه او هغه څه چې د هغوی په رستورانتونو کې وي په اصل کې روا دي، او د خوړلو په وخت کې باید د بسم الله په ویلو باندې ټینګار وشي، او مسلمان لره غوره دا ده چې هغه څه ونه خوري مګر چې تحقیق یې وکړي چې دا حلاله او مباحه غوښه ده.

**بحث وکړه**

**د خپلو همکارانو سره په انټرنېټ کې ځینې سایټونه وپلټئ چې ستاسو سره ستاسو په هیواد کې حلالو خوړو ترلاسه کولو کې مرسته کوي.**

........................................

........................................

........................................



د هغې حلالې احکام چې په دوکانونو او رستورانتونو کې پلورل کیږي د هغه چا د مذهب له مخې توپیر لري چې ذبح کړې یې دي.

**۱** د حرامو خوراکونو او څښاکونو په اړه فکر وکړئ، بیا د هغو حکمتونو په اړه فکر وکړئ چې د هغو په وجه یې حراموالی اړین دی.

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

**۲** کله چې یهودي او یا نصراني یو مال حلال کړ نو د هغه خوراک روا دی اگر که د الله تعالی نوم یې پرې نه وي یاد کړی.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

د هغې مرې شوې ذبیحې خوړل روا نه دی چې د برق په شارټ سره وژل شوې وي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم



## دریم لوست

# مالي راکړې ورکړې

### پیلیزه

د اسلام د دین عظمت دا دی چې د انساني ژوند ټول اړخونه پکې شامل دي، په دې کې د خلکو د یو بل سره د معاملو کنټرول، د هغوی د حقوقو ساتنه او د هر چا په وړاندې د ظلم مخنیوي ته پاملرنه شوی، او د دې پاملرنې د لوازماتو څخه دا دي: د هغو قوانینو او مقرراتو تصویب چې د دوی ترمنځ مالي راکړې ورکړې اداره کوي، پدې لوست کې به موږ د مالي معاملو لپاره د یو لړ احکامو او د ځینو د منع کولو د دلیلونو په اړه پوهه حاصله کړو.

## مالي راکړې ورکړې څه شی دي؟

مالي راکړې ورکړې: دا هغه معاملې دي چې پیسې په کې تبادله کیږي، که د نورو پیسو په بدل کې وي، لکه د پلور په توګه. یا د ګټې په بدل کې؛ لکه اجاره ورکول، یا پرته له ګټې؛ لکه ډالۍ.

## په مالي راکړې ورکړې کې اصل:

اصل په مالي راکړې ورکړې کې جواز دی، نو په دې کې هیڅ شي ناروا ندی مګر هغه چې په قرآن کریم او نبوي سنتو کې یې ناروا والی راغلی وي.

اصل په راکړه ورکړه کې چې له هغې څخه مالي راکړه ورکړه هم ده جواز دی، نو هیڅ شی پکې حرام نه دي مګر په دلیل سره، د عبادتونو برعکس چې اصل پکې حرمت دی ځکه چې هغه توقیفي دي نو هیڅ عبادت نه دی روا مګر په دلیل سره.

## ناروا مالي راکړې ورکړې:

**الله تعالی ځینې مالي راکړې ورکړې حرامې کړې، چې ځینې یې دا دي:**

- په نا حقه سره د خلکو مالونه اخيستل، لکه په چل او زور سره اخيستل.
- د یو سوداګر مجبورول په داسې معامله چې هغه یې کول نه غواړي.
- د انسان روغتیا ته د زیان رسوونکو توکو سودا کول؛ لکه الکول، نشه يي توکي، تمباکو او داسې نور.
- سود، په دې شرط د قرض ورکول چې بېرته به يې په يوه اندازه زياتي سره ورکوي، لکه د ۵٪ زياتوالي په څير.
- د یو مجهول شي سودا کول چې معلوم نه وي چې دا څه شی دی، لکه د داسې یو بکس پلورل چې د هغه دننه شیانو په اړه مالومات نه وي.
- قمار او شرطونه چې په هغه کې ګټونکي د بايلونکي پيسې په ناحقه اخلي.

## د مالي راکړې ورکړې د حراموالي لاملونه:

**اصلي لاملونه چې د هغو په وجه مالي معاملې حرامېږي دا دي:**




### بحث وکړه

**د ګنو مالي راکړو ورکړو په رڼا کې چې یو مسلمان یې په خپل ژوند کې ترسره کوي، څنګه به پوه شي چې کوم یې حلال دي او کوم یې حرام دي؟**

..........

..........

..........

..........

..........

..........

..........

## تمرین

د راتلونکو عبارتونو څخه هر یو عبارت په مناسب خالي ځای کې د تړاو له مخې کېږدئ:

- د شرابو خرڅول
- رشوت
- د انټرنټ له لارې د جامو اخیستل
- د ضرر لرونکي موادو سودا کول
- یو چا ته په دې شرط قرض ورکول چې بېرته به ورته ۱۰٪ زیات ورکوي
- د څنبلو اوبه خرڅول
- هغه مسابقې چې ګډونوال یې پیسې ورکوي او بیا یې ګټونکی اخلي

حلاله مالي راکړه ورکړه:

حرامه مالي راکړه ورکړه:



سود د هغو سختو مالي راکړو ورکړو څخه دی چې اسلام یې د هغه د زیانونو له امله یې منع کړې، او دا یو له لویو ګناهونو څخه شمېرل کېږي چې پدې معامله کوونکی الله تعالی په سخت عذاب سره ګواښلی.

۱
د حرامو مالي راکړو ورکړو په اړه فکر وکړئ، بیا د هغو د حکمتونو په اړه فکر وکړئ چې د هغو په وجه یې حراموالی اړین دی.

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

۲
جواري روا ده که د دواړو خواوو په رضایت سره وي.

- ◯ سم
- ◯ ناسم

مسلمان لره روا ده چې په سود سره قرض واخلي کله چې هغه ورته اړتیا ولري.

- ◯ سم
- ◯ ناسم



## څلورم لوست

# اخلاق (ښایسته خویونه)

**پیلیزه**

اسلام خپلو پیروانو ته په ښو اخلاقو ټینګار کوي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرو نبوي احادیثو کې د اخلاقو اهمیت ته لارښوونه کړې، او ډېر هغه عبادتونه چې مسلمان یې کوي او اخلاق یې سره مقایسه کړې، او خوش اخلاقه مسلمان سره په دنیا او اخرت کې د لویو بدلو وعدې شوې، په دې لوست کې به مونږ د ځینو فضیلتونو په تشریح سره په اسلام کې د اخلاقو اهمیت وپېژنو.

### اخلاق په اسلام کې:

ښه اخلاق په اسلام کې لوړ مقام لري، نو دا د شریعت د هدفونو څخه یو مهم هدف دی، او همدارنګه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د رالېږلو یو هدف هم دی، اخلاقله ایمان سره ټینګه اړیکه لري، نو په مومنانو کې هغه څوک د پوره ایمان څښتن دی چې ښایسته اخلاق ولري، مسلمان ته په نېکو اخلاقو باندې ثواب ورکول کېږي، لکه څرنګه چې په لمانځه او روژه باندې ورته ثواب ورکول کېږي.

**بحث وکړه**

**د مسلمان اخلاق باید د نورو سره څرنګه وي؟ او ایا اخلاق د اسلام په اړه د دوی په قضاوت پورې اړه لري کنه؟**

.......................................................................................................

.......................................................................................................

## د غوره اخلاقو فضیلت:

- پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- د هغه څه په اړه خبر ورکړئ چې ډېری خلک به د هغه په وجه جنت ته ننوځي چې هغه: د الله تعالی څخه وېره او ښایسته اخلاق دي.
- او پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې د قیامت په ورځ د انسان په ترازو کې تر ټولو درنه نیکي: ښایسته اخلاق دي.
- او پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې د قیامت په ورځ هغه ته په مرتبه کې نږدې هغه مومن دی چې: په ټولو کې یې اخلاق ښایسته وي.

د انسان ترازو: دا به د قیامت په ورځ وي کله چې به د انسان نیکۍ او بدۍ په یو خاص ترازو باندې تلل کیږي چې هېڅوک د هغه شکل او اندازه نه پېژني، نو چې د چا د نېکیو تله درنه شوه هغه به جنت ته ننوځي او د چا چې د گناهونو تله درنه شوه نو هغه به اور د جهنم ته ننوځي.

### تمرین

د راتلونکو عبارتونو څخه یو عبارت په مناسب خالي ځای کې د تړاو له مخې کېږدئ:

- مسلمان ته خندا (مسکا)
- خشوع (عاجزي)
- ریښتیا
- د لارې نه د ضرري څیز لرې کول
- د بل سره مرسته کول
- امید
- د خیر په کارونو کې مرسته کول

له نیکو اخلاقو څخه:

د زړه له عبادتونو څخه:

## په اسلام کې د اخلاقو ځايونه:

**په اسلام کې د اخلاقو يو ځای نه دی، بلکې ډېر ځايونه لري، او هغه دا دي:**

- د الله تعالى سره اخلاق، لکه د الله تعالى نه وېره او هغه ته په عملونو کې اخلاص.
- د پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره اخلاق، لکه د هغه سره مينه او د هغه د يادولو په وخت کې ادب، او د هغه د نوم يادېدو په وخت کې په هغه باندې درود ويل.
- د شريعت سره اخلاق، لکه د شريعت مسئلو ته غاړه کېښودل او د هغو احترام کول.
- له ځان سره اخلاق؛ لکه په نېکۍ کولو کې د ځان سره نرمي کول، او د سستۍ نه په منع کولو کې په ځان ټينګتيا.
- د نورو سره اخلاق، لکه رښتيا او امانتداري.
- د حيواناتو سره اخلاق، لکه د هغوی ساتنه او د وهلو او ازارولو نه يې ځان ساتل.
- د چاپېريال سره اخلاق، لکه له ورانولو څخه يې ساتل، د ونو کېنول، او د هغې په نعمتونو کې زياتی نه کول.

اضافي مطالعه

د دې لپاره چې د اسلام د اخلاقو او فضايلو په اړه ډېر مالومات ترلاسه کړئ، او د هغه اثر په انسانانو باندې نو دا کتاب ولوله: (الإسلام دين السلام) اسلام د سلامتيا دين دی، کوم چې د اصول په پلې ستهور کې په مختلفو ژبو شتون لري.

د کتاب د ډاونلوډ کولو لپاره دا بارکوډ سکن کړئ



اخلاق په اسلام کې يواځې د انسانانو سره په چلند کې محدود نه دی، بلکې د چاپېريال او حيواناتو سره په چلند پورې هم اړه لري.

۱ د دې کليپ په کتلو سره: (The beauties of Islam) د اسلام ښکلاوې، بيان کړه چې اسلام د انسانانو معنوي او اخلاقي اړتياوې تر کومه حده پوره کوي.

د ويډيو کليپ
ليدلو لپاره
بارکوډ سکن کړه

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۲ يو نبوي حديث بيان کړه چې د ښو اخلاقو په فضيلت باندې دلالت کوي.

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۳ په اسلام کې اخلاق يواځې انسانانو سره په تعامل کې محدود دی.

◯ سم

◯ ناسم

# شخصي ارزونه

| م | تعليمي موخه | د ارزونې کچه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | نه | کمزورى | ښه | عالي |
| ١ | ايا تاسو کولی شئ شرحه کړئ چې اصل په جامو کې څه دی؟ | | | | |
| ٢ | ايا حرامې جامې دې وپېژندلې؟ | | | | |
| ٣ | ايا پوه شوې چې په خوراک او څښاک کې اصل څه دی؟ | | | | |
| ٤ | ايا حرام خوراکونه دې وپېژندل؟ | | | | |
| ٥ | ايا حرام څښاکونه دې وپېژندل؟ | | | | |
| ٦ | ايا ودې پېژندل چې په مالي راکړه ورکړه کې اصل څه دی؟ | | | | |
| ٧ | ايا ناروا مالي راکړه ورکړه دې وپېژندلې؟ | | | | |
| ٨ | آيا تاسو د اسلام اسانتيا او سهولت احساس کوئ؟ | | | | |

# پای

**په پایله کې نوي مسلمان ته د لاندې ټکو سپارښتنه کوو:**

- له خپل دین څخه د هغه څه په زده کولو ټینګار چې اړتیا ورته لري، او باید په هغه کې د معتبرو منابعو پلټنه وکړي، که هغه علماء وي او که داعیان وي، کتابونه او حوالې وي او که صوتي یا ویډیویي مواد وي.
- په علم باندې عمل کول، نو په مسلمان باندې لازم دی چې کوم ګټور علم یې یاد کړی وي باید عمل پرې وکړي.
- په علم او عمل کې تدریجي پرمختګ، نو د علم حاصلول، د ښو اخلاقو خپلول او د عبادت ترسره کول یو انسان ته په یو وخت نه شي حاصلېدلی، بلکې یو په بل پسې یې ترلاسه کوي.
- د هر هغه څه څخه ځان ساتل چې په ایمان منفي اغیزه کوي، که هغه شکونه وي او یا خواهشات.
- په دوامداره توګه له الله تعالی څخه د حق لار موندلو غوښتل، او د حق څخه د باطل توپیر کول.
- اسلامي احکام له توانایی سره تړلي دي، نو مسلمان له هغو څخه هغه څه کوي، چې په وس کې یې وي، پرته له دې چې په خپل ځان باندې هغه څه بار کړي، چې په وس کې یې نه وي.
- د صالحو مسلمانانو د ملګرتیا په لټه کې واوسئ چې د هغه په ایمان او نیکۍ کې زیاتوالی راولي، او د نورو د خواهشاتو او شکمنو خلکو سره له ناستو څخه ډډه وکړي.

# وروستۍ ازموینه

نوم:

اخرنۍ نمرې: / ٤٠ نمرې

## أ. د راتلونکو جوابونو څخه سم ځواب په نښه کړئ:

١٥ نمرې

١ الله تعالی په انسان کې د څه شي په شان مشابهت ګرځولی:

- ملايکو
- شيطانانو
- چارپايانو
- ټول سم دي

٢ د انسان اصلي پيداښت د څه شي څخه دی:

- اوبه
- خټه
- اور
- تيره

٣ اسلام وايي چې انسانيت د هغوی د پلار څخه شروع شوی:

- إبراهيم
- عيسی
- آدم
- محمد

٤ کله چې يو انسان مړ شي هغه يو بل پړاو ته ځي:

- کار او ازموينه
- بدله او حساب کتاب
- نشت او ختمېدل
- ټول سم دي

٥ د محمد صلی الله د پيغمبرۍ نه وروسته الله تعالی د انسان نه هيڅ دين نه قبلوي مګر يو دين چې هغه:

- يهوديت دی
- نصرانيت دی
- اسلام دی
- هندوييزم دی

٦ د اسلام د رکنونو شمير:

- ۳ دي
- ۴ دي
- ۵ دي
- ٦ دي

۷ الله تعالی په قرآن کریم کې خبر ورکړی چې هغه ټول ګناهونه بخښي که یې خوښه شي پرته له:

- ◯ قتل
- ◯ غلا
- ◯ شرک
- ◯ دروغ

۸ مسلمان چې د قرآن کریم هر یو حرف لولي نو هغه لره په دې باندې:

- ◯ یوه نیکي ده
- ◯ دوه نیکیاني دي
- ◯ اوه نیکیاني دي
- ◯ لس نیکیاني دي

۹ د قرآن کریم له نومونو څخه :

- ◯ الذکر
- ◯ الفرقان
- ◯ الکتاب
- ◯ ټول چې تېر شول

۱۰ د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ﴾ کې د ﴿كُفُوًا﴾ معنا، یعني:

- ◯ پوره
- ◯ معبود
- ◯ هم سیال
- ◯ یوازې

۱۱ د ﴿ٱلۡفَلَقِ﴾ معنا د الله تعالی په دې وینا کې : ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ﴾ یعني:

- ◯ د شپې تیاره
- ◯ د سپوږمۍ راختل
- ◯ د سبا راختل
- ◯ د لمر زوال

۱۲ د ﴿أَعُوذُ﴾ معنا د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ﴾ یعني:

- ◯ زه پناه غواړم
- ◯ بنده ګي کوم او نږدې کېږم
- ◯ ثنا وایم او یادوم
- ◯ تسلیمیږم او غاړه ږدم

۱۳ د ﴿ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ﴾ معنا د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ﴾ یعني:

- ◯ جادوګر
- ◯ حسد کوونکی
- ◯ شیطان
- ◯ کافر

**١٤** د (شائنک) معنی د الله تعالی په دې وینا کې: (إن شانئك هو الأبتر) یعني:

- ستا سره کرکه کوونکی
- ستا سره مینه کوونکی
- په تا باندې ایمان لرونکی
- ستا نه مخ اړوونکی

**١٥** د بدني عبادتونو څخه:

- مینه
- امید
- لمونځ
- ټول سم دي

**ب. راتلونکې کلمې د دوی د سمو ډلو له مخې طبقه بندي کړئ:** ۸ نمرې

طواف

لمونځ — خوراک

قبلې ته مخ کول

د تشو متیازو وتل — د عورت پټول

څښل — خوب

د اوداسه واجبوونکي شیان:

د لمانځه شرطونه:

د اوداسه ماتوونکي شیان:

د روژې ماتوونکي:

## ج. لاندي د اوداسه اعمال ترتیب کړئ، له لومړي سره یې پیل کړئ:

٦ نمرې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| په سر باندې مسح کول | د مړوندونو پورې د لاسونو مینځل | د مخ مینځل | د پښو مینځل | د غوږونو مسح کول | خولې او پوزې ته اوبه اچول |

| | | |
|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ |
| ٤ | ٥ | ٦ |

## د. راتلونکي د لمانځه اعمال ترتیب کړئ، له لومړي سره یې پیل کړئ:

٦ نمرې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د الحمد لله لوستل | رکوع | تحریمه تکبیر | سلام | د التحیات ویل | سجده کول |

| | | |
|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ |
| ٤ | ٥ | ٦ |

## هـ. د سمو جملو مخې ته د (سم) نښه، او ناسمو جملو مخې ته (ناسم) کېږدئ:

٥ نمرې

١. مسلمانان د حج عبادت د رمضان المبارک په میاشت کې ترسره کوي. ( )

٢. په مسلمانانو نارینه وو باندې د سرو زرو اغوستل ناروا دي. ( )

٣. مسلمانانو لره روا ده چې د خنزیر غوښه وخوري. ( )

٤. په مالي راکړه ورکړه کې اصل جواز او روا والی دی. ( )

٥. په مسلمانانو کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته تر ټولو نږدې د قیامت په ورځ هغه څوک دی چې اخلاق یې ښایسته وي. ( )

مركز أصول
OsoulCenter
www.osoulcenter.com



مور خوښ یو چې تاسو ته دا کورس وړاندې کوو چې ریښتینی دین (د اسلام دین) معرفي کوي او د هغه علمي او عملي اړتیاوې بیانوي، د دې لپاره چې ستا د دین په پیژندلو کې ستا لپاره چابې او د اسلام د احکامو په پلي کولو کې درسره مرسته کوونکې شي. دا کورس تاسو ته دا شیان وړاندې کوي:

۱- د اسلام د دین او لویو اړینو موضوعاتو په اړه یې لنډ وضاحت.

۲- قرآن کریم ته یوه عمومي کتنه، او د قرانکریم د ځینو لنډو سورتونو د معناګانو تفسیر.

۳- د فرضي عبادتونو د احکامو لنډ تشریح.

٤- په اسلام کې د معاملاتو، رواجونو او اخلاقو په اړه د مهمو احکامو لنډ توضیح.

د دې درسي فصلونه د تعلیمي پلان له مخې ویشل شوي چې د هر فصل درسونه شپږو ورځو باندې ویشل شوي، د هر درس موده ټاکل شوې ده. دا مضمون په یوه تعلیمي بڼه هم جوړه شوې ده چې یو شمیر فعالیتونه او تمرینونه پکې شامل دي، کوم چې د نوي مسلمان سره د معلوماتو د یادولو او په هغې باندې پوهېدلو کې مرسته کوي، سربېره پر دې د هر درسي فصل په پای کې د ارزونې پوښتنې دي ترڅو زده کونکي وکولی شي د هغه د پوهې کچه و ارزوي. په دې مضمون کې یو شمیر بڼې شاملې دي چې هدف یې د نوي مسلمان د تعلیمي پروسې په ښه کولو او د کورس په پوهیدو کې مرسته کول دي.


osoulcenter

www.osoulcenter.com

ISO

International Organization for Standardization

9001

جائزة السبيعي للتميز

لتحميل هذاا لكتاب وغيره من الكتب، من خلال متجر أصول:

OSOUL STORE

osoulstore.com